# نوي (90 ) منتخب حديثونه او دحفظ حديث پنځمه مقابله

جمع او ترتیب

ډاکټر/ محمد مرتضی عائش محمد

نشر او توزیع : د دعوت او جالیاتو دپاره مرستندویه
مکتب ربوة - ریاض - سعودي عربستان

جمله ټول حقوق د لیکوال دپاره محفوظ دي

دچهاپ کال : 1437هـ /2016 م

*Download From; Aghalibrary.com*

بسم الله الرحمن الرحيم

## سريزه

الحمد لله رب العالمين, والعاقبة للمتقين, والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين, وعلى أله وأصحابه وأتباعه إلى يوم الدين, أما بعد:

په دين اسلام کښې دنبوي سنتولپاره ډيرأهميت ( أړتيا ) شته ، ځکه چه نبوي سنت د اسلام په أحکامو کښي دقران کريم نه روستو ددوهم مصدر حيثيت لري له دې وجې نه ټول مسلمانان بايد د نبوي سنتو پوره اهتمام او تابعدارې اوکړي .

له دي وجې نه ما دالله تعالى په مرسته او کومک سره دا کوشش اوکړو چه يوه داسي مجموعه داحاديثو وليکم چه په هغې کښي د عقيدې او احکامو او همدارنګه د اخلاقو په اړوند معلومات موجود وي.

او ورسره به بعضي علمي مسئلې کومې چه دهمدي احاديثو نه مأخو( راخستلی ) شوي وي هم ذکر کيږي .

Download From; Aghalibrary.com

ددي لپاره چه مسلمانان د خپل خوږ پيغبر محمد صلی الله علیه وسلم سره مینه او محبت اوکړي، او دهغه تعظیم اوکړي او په دي سره دالله تعالی رضا حاصله کړي په دنيا اواخرت دواړو کښي او په دي علمي مسائلو کښي مي داسلام هغه لوي عالمانو څخه چه داسلام خدمت يي کړی دی  هم فائده اخستي ده لکه امام يحی بن شرف النووي، او همدارنګه حافظ ابن حجر العسقلاني وغيره ، الله تعالی دې هغوي ته ښې بدلې ورپه برخه کړي !

دالله تعالی نه په عاجزۍ سره دعاکوم چه زما دا عمل په خپل دربار کښي قبول کړي او فائده مند يي اوګر ځوي!

په حديث باندي دصحت وغيره  حکم کول ، هرکله چه حديث په صحيحينو ( بخاري او مسلم ) کښي موجود وي نو بيا په هغه حديث باندي حکم کولو ته ضرورت نشته ځکه چه ټول امت مسلمه ددي دواړو کتابونو ( بخاري او مسلم) په صحت باندي اتفاق کړی دی .

***Download From; Aghalibrary.com***

او كه چيرته حديث د سنن اربعه ( سنن ابي داوود سنن نسائي ، سنن ابن ماجه ، سنن ترمذي ) څخه وي نو په حديث باندي دحكم كولو باره كښي مي دعلامه ناصرالدين الالباني په قول ( وينا ) اكتفاء كړي ده ، او په زياتو احاديثو كښي مي ورسره دامام ترمذي قول هم ذكر كړى دى ځكه چه امام ترمذي په دي باب كښي جدا مذهب لري الله تعالى دې په دوي باندي رحم اوكړي !

په اخره كښي زه ډير احترامات وړاندي كوم فضيلة الشيخ خالد بن علي ابا الخيل ته كوم چه مدير دى دالمكتب التعاوني للدعوة والارشاد وتوعية الجاليات بالربوة : الرياض . ځكه چه هغه مونږ ته ډيره ښه لارښو نه اوكړه .

او همدارنګه د شيخ ناصر بن محمد الهويش هم ډيره مننه كوم ، كوم چه مدير دى دقسم الجاليات ، او دخير په دي كار كښي ډير حريص دى ، او دزړه له كومي

Download From; Aghalibrary.com

دهر هغه چا شکر ادا کوم چا چه ما سره يي په دي کار کښي مرسته او کومک کړی دی ، د بيلګې په توګه دعاة ( داعيان) ورونه په قسم الجاليات کښی .

او همدارنګه ښاغلی محترم ورور عبد العزيز مضعوف الله تعالى دې ټولو ته ډيري ښي بدلي ورپه برخه کړي !

وصلى الله وسلم على نبينا محمد, وعلى ألہ وأصحابه وأتباعه, والحمد لله رب العالمين, كتبه مؤلفه بتأريخ 1437/1/11هـ -20145/10/24م.

*Download From; Aghalibrary.com*

بسم الله الرحمن الرحيم

فضل الصدقة من الكسب الحلال الطيب

1 -عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَصَدَّقَ بِعَدْلِ تَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ، وَلاَ يَقْبَلُ اللهُ إِلاَّ الطَّيِّبَ؛ فَإِنَّ اللهَ يَتَقَبَّلُهَا بِيَمِينه، ثُمَّ يُرَبِّيهَا لِصَاحِبِهِ، كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ حَتَّى تَكُونَ مِثْلَ الْجَبَلِ".

(صَحِيح البخاري، رقم الحديث 1410، واللفظ له، وصحيح مسلم، رقم الحديث 63 - (1014)

د پاک حلال مال نه صدقه او دهغې فضیلت :

د ابوهريره ﵁ نه روايت دی چه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي : چاچې د کجورې برابر صدقه ورکړه دحلال مال نه، او الله تعالی نه قبلوې مګر حلال مال ، پس بيشکه الله تعالی د هغه دا صدقه په ښي لاس أخلي ، او د هغه د پاره يي داسي زياتوې لکه په تاسو کې چې يو کس خپل

Download From; Aghalibrary.com

د اس بچی پالې، تردې چې دهغه صدقه د غره برابر لويه شي .

دراوي پيژندنه:ددي حديث راوي عبدالرحمن بن صخر الدوسي اليماني دی او په أبوهريره ﵁ باندي مشهور دی ددي وجه داوه چه ده به د خپلې کورنې چو پاني کوله او ورسره به يوه پيشو هم وه

ابوهريره ﵁ په اوم (۷) کال دهجرت باندي د اسلام په دين مشرف شو، او په همدي کال باندي خيبر علاقه هم فتحه شوه .

او بيا يي څلور (۴) کاله د نبي کريم ﷺ سره يو ځاي تير کړه او دعلم د حاصلولو لپاره يي ډير کوشش او حرص کوو .

تر دي چه ډير علم يي د نبي کريم ﷺ نه زده کړه , او ده په ټولو صحابه کرامو کښې د نبي کريم ﷺ نه زيات احاديث روايت کړي دي ، تر دي چه دده مسند په

Download From; Aghalibrary.com

پنځه زره دري سوه څلور او يا (۵۳۷۴) احاديثو باندي مشتمل دی او د مديني د فقهاو (پو هانو ) له جملې څخه دی ، او په کال اوه پنځوس (۵۷) هجري کښې وفات شو او د بقيع په هديره کښې دفن شو .

ددي حديث د فوائدو څخه :

1- دنورو عبادتونو په شان په صدقه کې هم بايد نيت يواځې دالله تعالی رضاوي، او په هغې کې بايد بل هيڅ قسم ذاتي غرض ريا وغيره نه وي.

2- دحرام کسب کار نه دهر مسلمان دپاره ځان ساتل واجب دي، ځکه په دې سره دالله تعالی قهر او غضب نازليږي، او په دې سربيره حرام کسب دډيرو لويو نفساني مرضونو لکه ډير زيات لالچ، بخل، ناقلارۍ، وغيره سبب هم ګرځي.

3-په دې حديث کې د الله تعالی دپاره د يمين (ښی) لاس ذکر راغلی دی، ځکه چې فطري طور سره خوښ او محبوب شيان په ښي لاس سره اخستلی شي، د الله تعالی

Download From; Aghalibrary.com

أسماء او صفات چې په شرعي نصوصو کې ښکاره راغلي دي، همغه شان په هغې باندي دتحريف يا تعطيل يا تشبيه يا تکييف نه بغير ايمان راوړل واجب دي، نو دالله تعالی په لاس ايمان لرل ښکاره چې دهغه دشان سره لائق دی واجب دي .

الإسلام دين اليسر

2- عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ: النَّبِيّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْجَنَّةُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ، وَالنَّارُ مِثْلُ ذَلِكَ".

(صحيح البخاري، رقم الحديث 6488).

اسلام د اسانۍ دين دی

د عبد الله بن مسعود ﷛ نه روايت دی چه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي :جنت تاسو ته ستاسو د پيزار د تسمکې نه هم ډير قريب او نيزدي دی ، او همدغه شان جهنم هم .

*Download From; Aghalibrary.com*

دراوي پيژندنه:ددي : ددي حديث راوي عبد الله بن مسعود ﵁ مشهور صحابي او په صحابه کرامو کښي دلوې عالمانو څخه يو لوي عالم او قارئ وو، او دده مسند په (۸۴۸) احاديثو باندي مشتمل دی رسول الله ﷺ سره په ټولو غزاګانو کښې شريک شوی دی ، او د نبي کريم ﷺ د فات نه روستو بيا د يرموک په غزا کښې کومه چه په شام کښې واقع شو ې وه هم شرکت اوکړو او بيا عمر﵁ کوفې ته ددي لپاره اوليږه چه د کوفې خلکو ته ددين تعليم ورکړې ، او دعثمان بن عفان ﵁ په زمانه دخلافت کښي د کوفې امير مقرر شو ، او بيا ورته امر اوکړی شو چه مدينې ته راشي ، روستو ددينه چه مدينې ته راغي په کال (۳۲) هجري کښې په مدينه کښې وفات او دبقيع په هديره کښي دفن کړی شو او عمر يي څه د بره (۶۰) کاله وو

Download From; Aghalibrary.com

ددي حديث د فوائدو څخه :

1- شراک نعل : داهغه څرمن ته وايي کومه چې په بیزار کې دخپي په بره طرف باندي وي او خپي ته ډیره نیزدي وي نوکله چې د یو څیز د نیزدیکت بیانول مقصد وي نو دا دمثال په طور ذکر کیږي .

2- د اسلام مبارک دین د اسانۍ او سهولت دین دی ځکه خو په داسي عقائدو مشتمل دی چې واضحه او اساني دي او هیڅ قسم ابهام نلري، او په داسي عبادتونو مشتمل دی چې هیڅ قسم سختي او سترتیاوې نلري، او په داسي ښو او لوړو اخلاقو مشتمل دی چې د انساني فطرت او روغ عقل سره برابر او دښي ټولني ټولې تقاضاوې په ښه شان سره پوره کوي.

3- ددي حديث نه معلومه شوه چې په اخلاص او بندګي سره دجنت حاصلول ډیر اسان دی، همدغه شان د خواهش په تابعدارۍ او دګناهونو په ارتکاب سره دوزخ هم ډیر اسان دی، ددي وجې نه دخیر او نیکۍ

Download From; Aghalibrary.com

کارونه سپک نه دي ګڼل پکار اګر کې لږ وي، همدغه شان دګناهونو نه ځان ساتلو کې کوتاهي هم نه ده پکار، ځکه دا پته نه لګي چې الله تعالی په بنده باندي د کوم نیک کار په وجه رحم وکړي او جنت ته یي داخل کړي، او دکومي ګناه په وجه ناراضه او بنده د دوزخ مستحق وګرځوي.

من أحكام الأضاحي

3- عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ضَحَّى النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ، ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ، وسمى وَكَبَّرَ، وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا.

(صحيح البخاري، رقم الحديث 5565، وصحيح مسلم، رقم الحديث 17 - (1966)).

د قربانۍ ځنې مسائل

د انس بن مالک ﷺ نه روایت دی وایي : چې نبي کریم ﷺ په دوه سپین رنګه ښکره ورو ګډانو باندي قربانۍ وکړه، بسم الله، او الله اکبر یي ورباندي ووایه، او

Download From; Aghalibrary.com

دحلالولو په وخت یي خپله خپه دځاروو په ښتونو باندي ایښي وه .

دراوي پیژندنه:ددي : ددي حدیث راوي أبو انس حمزه بن مالک الانصاري د نبي کریم ﷺ خادم دی ، د نبي کریم ﷺ د هجرت نه لس (۱۰) کاله دمخه په مدینه کښي پیدا شوی دی ، په وړوکوالي کښي د اسلام په دین مشرف شو، او بیا د نبي کریم ﷺ سره ملګری او دهغه خادم شو او لس (۱۰) کاله یي د هغه خدمت اوکړو اوچه کله نبي کریم ﷺ وفات شو ، نو ده دمشق ته سفر اوکړو او بیا د دمشق نه بصرې ته لاړو ، او ډیر احادیث یي د نبي کریم ﷺ نه روایت کړي دي چه دده مسند په دوه زره دوه سوه شپږ اتیا (۲۲۸۶) احادیثو باندي مشتمل دی ، او په کال درې نوي (۹۳) هجري کښي د بصرې په ښار کښې وفات شو ، او عمر له سلو (۱۰۰) کالو څخه زیات وو.

Download From; Aghalibrary.com

ددي حديث د فوائدو څخه :

۱- املح : تک سپین څاروۍ ته وايي، او دلغت څني علماو دا هم ويلي دي : چې املح هغه سپين څاروۍ ته وايي چې توروالي ته مائل وې .

۲- په ذبح کونکي باندي واجب ده چې دقربانۍ څاروي د حلالو په وخت بسم الله ووايي، او دبسم الله نه بعد الله اکبر ویل هم ښه دي .

۳- په قربانۍ کې داشرط دی چې قرباني به په څاروي سره وي چې هغه: اوښان، غواګاني، ګډي، بیزي دي همدغه شان په قربانۍ کې داهم شرط دی چې څاروي به د عیب نه پاک وې، په هغه څاروي قرباني نه کیږې کوم چې ښکاره ړوند وي،یا ښکاره مریض وي،همدغه رنګ په هغه څاروي چې ښکاره ګوډ وي هم قرباني نه کیږې ، او په هغه خوار څاروي چې دهغې په هډوکو کې مازغه نه وي هم قرباني نه کیږې .

Download From; Aghalibrary.com

## كيفية متابعة الإمام في الصلاة

4- عَنِ الْبَرَاء بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ: "سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ" لَمْ يَحْنِ أَحَدٌ مِنَّا ظَهْرَهُ، حَتَّى يَقَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاجِدًا، ثُمَّ نَقَعُ سُجُودًا بَعْدَهُ.

(صحيح البخاري، رقم الحديث 690، واللفظ له، وصحيح مسلم، رقم الحديث 198- (474)

## په مانځه کې د امام تابعداري

دبراء بن عازب رضي الله عنهما نه روايت دی، وايي: چې کله به نبي کريم صلی الله عليه وسلم "سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ" ووېله : نو مونږ به تر هغه پوري خپلې شاه ګاني نه ښکته کولي دسجدي دپاره ترڅو چې به نبي کريم صلی الله عليه وسلم سجدي ته لاړو، بيا به مونږ دهغه نه وروسته سجدي ته تللو .

Download From; Aghalibrary.com

دراوي پيژندنه:ددي حديث راوي براء بن عازب ﷺ جليل القدرفقيه انصاري صحابي دی،دنبوي هجرت نه لس کاله مخکې پيدا شوی وو، او دحديثو په کتابونو کې دده دري سوه پنځه حديثونه نقل دي، براء بن عازب ﷺ دنبي کريم ﷺ په ملګرتيا کې په اتلس غزاګانو کې شرکت کړی دی، اودبدر په غزا کې ددي وجې نه شريک نشو چې عمر يي کم وو اوله هغه غزا چې براء بن عازب ﷺ په کې شريک شو دخندق غزا وه، او دنبي کريم ﷺ د وفات نه روسته يي دفارس په فتوحاتو کې شرکت هم کړی دی، بيا وروستو دکوفي ښار ته لاړو او هلته تر مرګ پوري پاتي شو او بالاخره د کوفي په ښار کې په کال دوه اويا (۷۲) يا يو او يا (۷۱) هجري کې وفات شو او عمر يي څه دبره اتيا کاله وو.

*Download From; Aghalibrary.com*

ددي حديث د فوائدو څخه :

۱- مقتدي به په مانځه کې د يو رکن نه بل رکن ته ترهغه وخته نه ځې ترڅو چې امام هغې ته تللی نه وي، نو مقتدي به ترهغه وخته سجدې ته نه ځې ترڅو چې امام خپل تندی دسجدې دپاره په ځمکه کيږدي ځکه چې په مقتدي باندي دامام تابعداري واجب ده .

۲- مقتدي به ترهغه وخته پوري اولنی تکبير نه کوې ترڅو چې امام دهغې نه فارغه شوی نه وي .

۳- مقتدي به ترهغه وخته پوري سلام نه ګرځوې ترڅو چې امام سلام نه وي ګرځولی .

Download From; Aghalibrary.com

## كيفية السلام للتحلل من الصلاة

5- عَنْ سَعْد بْنِ أَبِي وَقَّاص رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: كُنْتُ أَرَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ يَسَارِهِ، حَتَّى أَرَى بَيَاضَ خَدِّهِ.
(صحيح مسلم، رقم الحديث 199 - (582)

## په مانځه کې سلام ګرځول او دهغې طريقه

د سعد بن ابي وقاص ﷛ نه روايت دى وايي: مانبي كريم ﷺ وليد چې ښي او چپ طرف ته يي سلام ګرځو او ما دهغه ﷺ دأنكو سپين والى وليد .

دراوي پيژندنه: ددي حديث راوي سعد بن أبي وقاص ﷛ جليل القدر قريشي صحابي دى، د نبوي هجرت نه دريش كاله مخكې په مكه مكرمه کې پيدا شوى دى او دځواني ورځې شپې يي په مكه مكرمه کې تيري كړې او دصحابه كرامو په هغه جماعت کې شامل دى كوم چې په دين اسلام کې اول داخل شوي وو، همدغه رنګ سعد

Download From; Aghalibrary.com

بن ابي وقاص ﷜ دهغه لسو صحابه کرامو په جمله کې هم شامل دی کومو ته چې په یو مجلس کې د جنت زیری ورکړی شوی وو اوهمدغه شان سعدبن ابي وقاص ﷜ یو د هغه شپږو صحابه کرامو د جملې څخه وو کوم چې عمربن الخطاب ﷜ ددي دپاره انتخاب کړي وو چې دهغه دمرګ نه وروستو به د مسلمانانو د خلافت چاري په غاړه اخلي، مديني ته يي هجرت کړی او دبدر په غزا کې او همدغه شان په نورو غزاګانو کې هم شریک شوی دی، سعد بن ابي وقاص ﷜ د نبي کریم ﷺ دمور بي بي د تره ( کاکا) زوي دی ، په همدي وجه به ورته نبي کریم ﷺ ورته دماما مقام ورکولو، سعد بن ابي وقاص ﷜ زړور او دشجاعت خاوند وو، دعمر او عثمان رضي الله عنهما په دور خلافت کې د کوفي دښار والي وو سعد بن ابي وقاص ﷜ د قادسيه په جنګ کې د مسلمانانو سر لښکر وو او د الله تعالی په

*Download From; Aghalibrary.com*

فضل يي د فرس لښکر ته ماتي ورکړه، او دمدائن ښار هم دده په لاس فتح شوی وو سعدبن ابي وقاص ﷛ د ډيرو فضائلو خاوند دی دده دعاګاني به د الله تعالی په دربار کې زر قبليدې ، په صحابه کرامو کې د خپل منځې جنګونو په مهال يي اعتزال ځانله والی اختيار کړی وو، او خپلو بچوته به يي ويل چې ماته ددي جنګونو خبرونه مه راوړې، دسعد بن ابي وقاص ﷛ نه دحديث په کتابونو کې دوه سوه اويا حديثونه نقل دي، بالاخره په کال پنځه پنځوس هجري کې اوه (۷)ميله لري دمديني نه په عقيق مقام کې وفات شو بيا مديني ته دهغه جسد راوړل شو او جنازه ورباندي دمديني والي مروان بن الحکم وکړه او په بقيع کې دفن شو.

*Download From; Aghalibrary.com*

ددي حديث د فوائدو څخه :

١- ددي حديث نه معلوميږي چې لمونځ كونكى به د سلام ګرځولو په مهال خپل مخ ښي او چپ طرف ته ګرځوي ترڅو چې دده دمخ ښي او چپ طرف وليدل شي .

٢- سلام ګرځونكى به د سلام ښي او چپ طرف ته ګرځولو په مهال ( السلام عليكم ورحمة الله ) وايي لكه څنګه چې دنبي كريم ﷺ نه په مخكې ذكرشوي حديث كې ثابت شو .

٣- دمانځه نه وتلو دپاره سلام ګرځول دمانځه په اركانو يو ركن دى ، څكه چې سلام ګرځول دمانځه په اخره كې دنبي كريم ﷺ هميشه عمل دى، او همدا دټولو صحابه كرامو او جمهورو علماو مسلک دى، د څنې علماو رايي ده چې دمانځه نه وتلو دپاره سلام ګرځول سنت دي خو غوره قول د جمهورو علماو دى .

## التحذير من الرياء والسمعة

6- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ سَمَّعَ، سَمَّعَ اللَّهُ بِهِ، وَمَنْ رَاءَى، رَاءَى اللَّهُ بِهِ".

(صحيح مسلم، رقم الحديث 47 - (2986)، واللفظ له، وصحيح البخاري، رقم الحديث 6499).

## د رياء او ځان ښودني ښخه ويره

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى وايي: نبي كريم ﷺ ويلي دي: څوک چې د رياكارۍ او ځان ښودني دپاره نيک عمل كوي، الله تعالى به يي وشرموي .

دراوي پيژندنه:

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما مشهور صحابي دى ، ابو العباس دده اسم كنيه ده ، په صحابه كرامو كښې د ډير علم او فضيلت خاوند وو، تر دي چه ( حبر الأمة ) يعنې لوي عالم او د مفسرينو امام دى ، او په نسب كښې د نبي كريم ﷺ دتره ځوي دى، د نبي كريم ﷺ دهجرت

نه دري (۳) کاله مخکې په شعب أبي طالب کي پیدا شوی دی ، او د نبي کریم ﷺ څخه یي ډیر علم حاصل کړی وو، د حدیثو په کتابونو کښې دده نه، دنبي کریم ﷺ یوزرو شپږ سوه شپیته (۱۶۶۰) احادیث نقل دي .

کله چه نبي کریم ﷺ وفات شو عبد الله بن عباس رضي الله عنه د دیارلس (۱۳) کالو په عمر وو.

بیا علي بن أبي طالب رضي الله عنه د خپل خلافت په زمانه کښې دبصرې امیر اوټاکه،او بیا روستو په کال اته شپیته (۶۸) هجرې کښې چه عمر یي یو اویا (۷۱) کاله ووپه طائف کښې وفات شو .

ددي حدیث د فوائدو څخه :

۱- ریاکاري دیته وایي چې بنده یو عمل د الله تعالی د رضا دپاره نه کوې بلکه دهغه مقصد د عمل کولو نه داوې چې خلک دهغه ستاینه او صفت وکړې، او ځان ښودنه دیته وایي چې بنده عمل یواځې د الله تعالی د

رضا دپاره وکړې او بیا وروسته يې خلکو ته بیانوې ددي دپاره چې عام خلک دهغه ستاینه او صفت وکړې .

٢- په دې حدیث کې سخته ویره او وعید ذکر دی دهغه چا دپاره چې په عمل کې ریاکاري او عمل دځان ښو دني دپاره کوې، په مسلمان باندي واجب دي چې عمل یواځې د الله تعالی د رضا دپاره وکړې.

٣- د ریا او سمعت ( ځان ښودنئ ) په وجه باندي عمل بربادیږي .

من علامات المسيح الدجال

7- عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الدَّجَالُ مَمْسُوحُ الْعَيْنِ، مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ"، ثُمَّ تَهَجَّاهَا: ك، ف، ر، "يَقْرَؤُهُ كُلُّ مُسْلِمٍ".

(صحيح مسلم، رقم الحديث 103 - (2933)، واللفظ له، وصحيح البخاري، رقم الحديث 7408).

## دجال او دهغه ځنې علامات

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى وايي: نبي كريم ﷺ ويلي دي: د دجال سترګې عيب جني دي او دهغه دسترګو په مينځ كې كافر ليكل شوى دى، بيا نبي كريم ﷺ دا الفاظ داسي: ك، ف، ر، ولوستل، اودابه هرمسلمان ويلى شي .

دراوي پيژندنه: د راوي پيژندنه مخكې (٣) نمبر حديث كې تيره شوې ده

ددي حديث د فوائدو څخه :

١- قيامت دورځې راتګ نه مخكې د دجال راتلل په شرعي نصوصو سره ثابت دي، لهذا په دي باندي ايمان لرل واجب دي، او په شام كې د دمشق ښار ته نيژدي به په ( باب لدا شرقي) ځاې كې چې تل ابيب ښار ته نيژدى دى، عيسى عليه السلام به دجال لره وژني.

٢- د دجال د علامو او نښو څخه داهم ده، چې دهغه سترګې عيب جني دي، او يوه سترګه دهغه به بهر راوتلي

وې، او دسترګو په مينځ کې به يي دا الفاظ (كافر ) ليكل شوي وي او هر مسلمان به دا لوستلي شي.

٣- د دجال د سترګو په مينځ کې كافر ليكل حقيقي دي او دا ددي دپاره چې دا يوه علامه او نښه وې دده په كفر باندي او دا به هرمسلمان لوستلې شي .

مِنْ أَدَابِ سِقَايَةِ القَوْمِ

8- عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "سَاقِي الْقَوْمِ أخِرُهُمْ شُرْبًا".

(جامع الترمذي، رقم الحديث 1894، واللفظ له، وصحيح مسلم، جزء من رقم الحديث 311 - (681)، وقال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن صحيح، وصححه الألباني).

## قوم ته اوبه ورکول او دهغې اسلامي اداب

ابو قتاده رضي الله عنه نه روایت دی وايي: نبي کریم ﷺ ویلي دي: قوم ته اوبه ورکونکي دپاره پکارده چې اخره کې اوبه وڅکې.

دراوي پیژندنه: ددي حدیث راوي ابو قتاده بن ربعي الانصاري رضي الله عنه جلیل القدر صحابي دی او په ډیرو غزاګانو کښې برخه اخستې ده او دسفر په مهال به یې د نبي کریم ﷺ خدمت او پیره کوله .

عمر بن الخطاب رضي الله عنه ده لره په یو لښکر دمسلمانانو کښې دفارس والاو دجنګ لپاره ولیږه نو دهغوی بادشاه ده په خپل لاس قتل کړه .

دده د مړیني په نیټه او ځاې کښې اختلاف دی ، چا ویلي دي چه دکوفې په ښار کښې په کال اته دیرش (۳۸) هجري کښې وفات شوی دی او دجنازې لمونځ یې علي

ﷺ اداکړه او  چا ویلي چه په مدينه کښې په کال څلور پنځوس (۵۴) هجري کښې وفات شوی دی .
ددي حديث د فوائدو څخه :
۱-هغه څوک چې ديو قوم دخوراک اوڅښاک مسؤليت په غاړه لري دهغه دپاره مسنون داده چې لمړی خوراک څښاک په قوم کې مشرانو ته ورکړې او يا د ښي طرف نه شروع وکړې او بيا په اخره کې خپله خوراک او څښاک وکړې .
۲ - په دي حديث کې ځنې اسلامي ادابو ته اشاره شوي ده هغه داچې هغه څوک چې په يو قوم باندي خوراکې شيان لکه غوښه، ميوه جات وغيره تقسيموې نو بايد ده چې اول يي په قوم باندي تقسيم کړې او بيا وروسته يي خپله واخلي.
۳- دي حديث او هغه حديث کې چې وايي لمړی دخپل ځانه شروع وکړه هيڅ تعارض نشته ځکه چې هغه

حديث عام دی، او دا حديث خاص دی، او په عام او خاص کې تعارض نه وي .

من أداب الشرب

9- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا شَرِبَ أَحَدُكُمْ فَلاَ يَتَنَفَّسْ فِي الْإِنَاء؛ فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَعُوْدَ؛ فَلْيَنح الْإِنَاء، ثُمَّ لِيَعُدْ إِنْ كَانَ يُرِيدُ".

(سنن ابن ماجه، رقم الحديث 3427، وصححه الألباني).

دڅښکلو اداب

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي :کله چې تاسو يو څه ( اوبه وغيره) څکئ نو په لوښي کې ساه مه اخلئ او که ساه اخلئ نو لوښی دخولې نه لري کړئ او که بيا غواړئ په دويم ځل دې وڅکې .

دراوي پيژندنه: دراوي پيژندنه مخکې (١) نمبر حديث کې تيره شوې ده .

ددي حديث د فوائدو څخه :

په يو بل حديث کې راغلي دي : ( أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يَتَنَفَّسُ فِي الْإِنَاءِ ثلاثًا، (صحيح مسلم، رقم الحديث 122- (2028) واللفظ له، وصحيح البخاري، رقم الحديث 5631،)

١- چې نبي کريم ﷺ به اوبو څکلو کې دري ځله ساه اخيستله، په دې دواړه حديثونو کې هيڅ تعارض نشته ځکه چې دا حديث په لوښي د اوبو کې دننه دساه اخستلو نه منع کوې، او هغه حديث کې دادي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم به دابو څکلو په مهال دري ځله ساه أخستله يعني د لوښي نه بهر

٢- دا حديث مونږ ته د نظافت او پاکوالي درس راکوې ځکه چې د ابو څکلو په وخت په لوښي کې ساه اخستلو سره کيدی شي چې دلاړو څاڅکي وغيره په لوښي کې وغورځيږې او يا باقې پاتي اوبو بد بويه شي .

## من المنهيات في الإسلام

10-عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّهُ اشْتَرَى غُلاَمًا حَجَّامًا؛ فَقَالَ: "إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ ثَمَنِ الدَّمِ، وَثَمَنِ الْكَلْبِ، وَكَسْبِ الْبَغِيِّ، وَلَعَنَ آكِلَ الرِّبَا وَمُوكِلَهُ، وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ وَالْمُصَوِّرَ".

(صحيح البخاري، رقم الحديث 5962).

## په اسلام کې ممنوع څيزونه

د ابو جحيفه رضي الله عنه نه روايت دی : چې ده يو غلام واخست چې په حجامت ( ښکر لګولو) کې ماهر وو، ده وفرمايل چې نبي کريم ﷺ په وينه باندي مال اخستلونه، او په سپي باندي دمال اخستلو نه، او په زنا باندي دمال اخستلو نه منع کړي ده، او په هغه چا باندي يي لعنت ويلی دی څوک چې سود خپله خوري او يا په بل باندي سود خوري، او يا خالونه لګوې يا د خالونو لګولو غو ښتنه کوې، يا تصويران جوړه وې

دراوي پيژندنه:

ددي حديث راوي أبو جحيفه ﵁ مشهور او جليل القدر صحابي دی .

دده نوم وهب بن عبد الله الكوفی دی او دا په وهب الخير سره هم مشهور وو، كله چې نبي كريم ﷺ وفات شو دا بلوغ ته نه و رسيدلی دحديثو په كتابونو كې ده نه د نبي كريم ﷺ پنځه ځلويښت حديثونه نقل دي، او په كال ځلور اويا هجري كي يي ددي فاني دنيا نه رحلت وكړو.

ددي حديث د فوائدو څخه :

1- مؤمن بنده بايد هميشه د الله تعالى او دهغه د دين لحاظ وكړي، اوداسلامي تعلمياتو پابندې وكړې، اودټولو منهياتو ( ممنوع شيان ) نه ځان وساتي، ځكه چې په دې كارونو سره بنده په دنيا او اخرت كې نيک بخته كيږي.

2- په اسلامي تعليماتو كې حلال كسب كولو ته ترغيب وركړی شوی دی، لكه تجارت، زراعت، صناعت، وغيره،

او دحرامو کسب نه لکه دويني خرڅول، د سپو خرڅول، دسود کاروبار وغیره، داټول کارونه دین اسلام حرام ګرځولي دي.

3- داحديث شريف ښکاره دلالت کوي د خالونو په حرمت او دجاندار ځيزونو په تصويرانو جوړولو باندي.

وجوب تلبية الدعوة

11- عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللَّهَ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ دُعِيَ إِلَى عُرْسٍ أَوْ نَحْوِهِ فَلْيُجِبْ".(صحيح مسلم، رقم الحديث 101 - (1429)، ).

دعوت قبلول واجب دي:

د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی چه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي : څوک چې واده وغیره ته دعوت کړی شو، نو دعوت دې قبول کړې.

دراوي پيژندنه:

ددي حديث راوي عبد الله بن عمر رضي الله عنهما جليل القدر صحابي دی ، د خپل پلار سره په داسې حال کښې

په دین اسلام مشرف شو ، چه بالغ لا هم نه وو , او بیا وروسته یې مدینې ته هجرت اوکړو، اول ځل لپاره د خندق په غزا کښې شریک شوی دی اوبیا وروسته په ټولو غزاګانو یې کښې د نبي کریم ﷺسره شرکت کړی دی ، او همدارنګه د مصر شام عراق او فارس وغیره په ډیرواسلامي فتوحاتو کښې شریک شوی دی اوپه صحابه کرامو کښې د علماو دجملې څخه شمارل کیږي ډیر زاهد او عابد وو تر دې چه دده زهد او تقوی د مثال په توګه ذکر کیږي .

او داحادیثو په کتابونو کښې دده نه د نبي کریم ﷺ دوه زره شپږ دیرش (۲۶۳۰) احادیث نقل دي .

او په کال اوه اویا (۷۷) هجري کښې په مکه مکرمه کښې دشپږ اتیا کالو(۸۶) په عمر وفات شو .رضي الله عنه !

ددي حديث د فوائدو څخه :
1- دا حديث دلالت کوې چې هغه څوک چې د واده بلنه ورکړی شي په هغه واجب ده چې دغه بلنه قبول کړې، څکه چې په دې سره بلونکی خوشحالیږې.
(عرس) اصل کې هغه خوراک ته وايي: کوم چې د واده په مهال په وليمه کې تیاریږې.
2- دين اسلام همیشه ښو اخلاقو او دزړونو پاکوالي ته ترغیب ورکوې، ترڅو هيڅ قسم بغض حسد او کینه په مجتمع کې رانشي، ځکه خو داسلامي تعليماتو سره سم په مسلمان باندي واجب ده چې دبل مسلمان ورورهغه دعوت قبول کړې کوم کې چې شرعي مخالفات نه وي.
3- کله چې د دعوت په اساس څوک يو خوراک ته حاضر شي نوباید ده چې دخوراک عیب اونقصان بیان نه کړې.

Download From; Aghalibrary.com

## فضل صلاة العشاء والصبح في الجماعة

12- عَنْ عُثْمَانَ بنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمعتُ رَسُوْلَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ، يَقُوْلُ: "مَنْ صَلَّى العِشَاءَ فِيْ جَمَاعَةِ؛ فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ، وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِيْ جَمَاعَةِ؛ فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ".

(صحيح مسلم، رقم الحديث 260 - (656)

د سهار او ماخوستن مونځ په جماعت سره کولو فضيلت:

دعثمان بن عفان رضي الله عنه نه روايت دی چې ما دنبي کريم ﷺ نه اوريدلي دي هغه فرمايل: څوک چې د ماخوستن مونځ په جماعت سره وکړي، ګويا چې ده نيمه شپه قيام ( تهجد) او چې ورسره د سهار مونځ هم په جماعت سره وکړي، ګويا، چې ده ټوله شپه قيام ( تهجد) وکړل .

Download From; Aghalibrary.com

دراوي پيژندنه: ددي حديث راوي عثمان بن عفان بن أبي العاص القرشي دی دفيل دواقعې نه شپږ(۶)کاله روستو په مکه مکرمه کښي زږيدلی دی او د نبي کريم ﷺ د بعثت نه لږ روستو داسلام په دين مشرف شو ، دريم خليفه او امير المؤ منين دی .

او ده دخپلي بي بي رقية رضی الله عنها سره چه د نبي کريم ﷺ لورده حبشې ته هجرت اوکړو،او ددين اسلام لپاره يي په مال او ځان سره ډيره قرباني ورکړې ده .

هغه دا چه د تبوک په غزا کښي عثمان رضي الله عنه د مسلمانانو دلښکر لپاره نهه سوه پنځوس ( ۹۵۰) اوښان او پنځوس (۵۰) اسونه تيار کړل ، او همدارنګه يوه څاه ( کوهی ) چه رومه نوميده د شل زره درهم (۲۰۰۰۰) په قيمت يي واخست او دعامو مسلمانانو دفائدي لپاره يي وقف کړو .

او پنځلس زره (۱۵۰۰۰) درهم يي د مسجد نبوي په پراخه کولو خرچ کړه .

Download From; Aghalibrary.com

او په کال (۲۳) هجري کښې د عمرﷺ د فات کیدلو نه بعد ورسره دعامو مسلمانانو لخوا بیعت اوکړی شو .
دده دخلافت په وخت کښې د قران کریم جمع هم اوشوه . او همدارنګه دده دخلافت په زمانه کښې د ( اسیا ) او ( افریقا ) ډیر ښارونه هم فتح شول .
او دعثمان ﷺ نه یوسلو شپږ خلویښت (۱۴۶)احادیث روایت کړی شوي دي . او په کال پنځه دیر ش (۳۵) هجري کښې دمجرمانو په لاس په شهادت ورسیده ، او عمر يي نهه اتیا (۸۹) کاله وو.
ددي حدیث د فوائدو ښخه :
1- د اسلام په مبین دین کې د مانځه ډیر زیات اهمیت دی خصوصا د ماخوستن او سهار مونځونه.
2- په دي حدیث کې د ماخوستن او سهار مونځونه په جماعت سره کول او دهغې فضیلت بیان شوی دی، څوک چې دواړه مونځونه په جماعت سره اداکړې لکه ټوله شپه چې قیام وکړې .

Download From; Aghalibrary.com

## الإسلام يُحَرِّمُ التصوير

13- عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ صَوَّرَ صُورَةً فِي الدُّنيا، كُلِّفَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنْ يَنْفُخَ فِيهَا الرُّوحَ، وَلَيس بِنَافِخٍ".

(صحيح البخاري، رقم الحديث 5963، واللفظ له، وصحيح مسلم، رقم الحديث 100- (2110)

اسلامي تعليماتو کې تصوير او عکس جوړول حرام دي:

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چې ما دنبي كريم ﷺ نه اوريدلي دي هغه وفرمايل: څوک چې په دنيا کې د يو جاندار څيز تصوير جوړ کړې، نو د قيامت په ورځ به دی په دي مكلف شي، چې په دي څيز کې روح واچوې، او دی هيڅ كله نشي كولى چې روح په کې واچوې.

دراوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه په شپږم نمبر حديث کې ذكر شوي ده.

Download From; Aghalibrary.com

ددي حديث د فوائدو څخه :

1- په اسلام کې د جاندار څیزونو تصویر جوړول حرام دی همدغه شان ددي کاروبار هم حرام دی، او د هغه څيزونو تصوير جوړول کوم چې روح نلري جائز دي، لکه وني، غرونه، سيندونه، وغيره.

2- د ين اسلام ځکه دجاندار څيزونو تصوير جوړول حرام ګرځوې چې په دې کې دالله تعالی سره په خلقت کې مشابهت راځې او ددينه شرک هم پيداکيږي.

من أداب الأكل

14- عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُماَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ الْبَرَكَةَ تَنْزِلُ وَسطَ الطَّعَامِ؛ فَكُلُوا مِنْ حَافَّتَيْهِ، ولاَ تَأْكُلُوْا مِنْ وَسَطِه".

(جامع الترمذي، رقم الحديث 1805، واللفظ له، وسنن أبي داود، رقم الحديث 3772، وسنن ابن ماجه، رقم الحديث 3277، وقال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن صحيح، وصححه الألباني).

*Download From; Aghalibrary.com*

د خوراک اداب:

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: دخوراک په مينځ کې برکت نازليږي پس تاسو په لوښي کې دطرف نه خوراک کوۍ، او د لوښي دمينځ نه خوراک مه کوۍ.

دراوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه په شپږم نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه :

1- دا حديث مونږ ته درس راکوي، چې هر څوک بايد دخوراک په وخت د خپلې مخې نه خوراک وکړي، او هر طرف ته بايد لاس وروړاندي نه کړي، دا په هغه وخت چې خوراک يو قسم وي، او چې کله خوراک ډير قسمونه وي نو کولی شي چې د مينځ نه هغه خوراک راواخلي کوم چې دده مخې ته نه وي.

2- د برکت نه مراد د خير زيات والی دی او د خوراک ډير والی دی، او ددي اثر داوي چې په دې خوراک سره

د انسان صحت ښه شي، قناعت ورته ملاوشي، دامن، سکون، راحت احساس وکړي.

من صفات الوضوء

15- عَنْ حُمْرَانَ رحمه الله، مَوْلَى عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ أَنَّهُ رَأَى عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دَعَا بِوَضُوءٍ؛ فَأَفْرَغَ عَلَى يَدَيْهِ مِنْ إِنَائِهِ؛ فَغَسَلَهُمَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، ثُمَّ أَدْخَلَ يَمِينَهُ فِي الْوَضُوءِ، ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَاسْتَنْثَرَ، ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا، وَيَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ ثَلَاثًا، ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ، ثُمَّ غَسَلَ كُلَّ رِجْلٍ ثَلَاثًا، ثُمَّ قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ نَحْوَ وُضُوئِي هَذَا، وَقَالَ: "مَنْ تَوَضَّأَ نَحْوَ وُضُوئِي هَذَا، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ لَا يُحَدِّثُ فِيهِمَا نَفْسَهُ، غَفَرَ اللَّهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ".

(صحيح البخاري، رقم الحديث 164، واللفظ له، وصحيح مسلم، رقم الحديث 3 - (226)

## د اوداسه طريقه:

د حمران رحمه الله نه روايت دی: چې ما عثمان بن عفان رضي الله عنه وليد، چې په لوښي کې يي د اوداسه اوبه را وغو ښتې، او دلوښي نه يي په لاسونوباندي اوبه راواړه ولې او دواړه لاسونه يي دري ځله ووينځل، بيا يي خپل ښي لاس په لوښي کې داخل کړ، او دلوښي نه يي اوبه راواخستې او په هغې باندي يي مضمضه ( د خولې وينځل) استنشاق( د پوزې وينځل) استنثار( دپوزې سوږ کول) وکړل، بيا يي خپل مخ دري ځله ووينځه، او لاسونه يي دځنګلو پوري دري خله ووينځل، بيا يي خپل سر مسحه کړ، بيا يي هر خپه دري ځله ووينځله، ددي نه بعد يي وفرمايل: ما نبي کريم ﷺ ليدلی وو چې داسي اودس يي وکړ، لکه ځنګه اودس چې وس ما وکړ، او بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: هرڅوک چې زما د اوداسه په شان اودس وکړې، او بيا دوهر کعته داسي مونځ وکړې چې په هغې کې دخپل ځان سره سوچونه او فکرونه

ونکړې، بلکه په توجه سره مونځ وکړې، مخکني ګناهونه به يي معاف شي.

دراوي پيژندنه: ددي حديث راوي حمران بن ابان الفارسي رحمه الله فقيه او دمديني په علماو کې يو لوې عالم دی او دعثمان بن عفان رضي الله غلام ووچې ازاد کړی يي وو حمران رحمه الله په کال پنځه اويا هجري کې وفات شوی دی، او هرچې عثمان بن عفان رضي الله عنه دی دهغه پيژندنه په دولسم نمبر حديث کې ذکر شوې ده.

ددي حديث د فوائدو څخه :

1- دا حديث شريف د او داسه باره کې کامل او پوره حديث دی هر مسلمان بايد د اوداسه داطريق کومه چې په دي حديث کې ذکر شوې ده زده کړې، هيره دې نه وې چې د سر مسح کول يو ځل دي سره دغوږونو نه ځکه چې غوږونه په سر کې داخل دي.

2- په ښه شان سره اودس اومونځ كول دمغفرت او جنت ته د داخليدلو سبب ګرځي.

3- د اوداسه نه بعد دا دعا ويل: مسنون دي: أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ؛

زه ګواهي كوم چې د عبادت حقدار يواځې د الله تعالى ذات دی، او ګواهي كوم چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله تعالى رسول، او بنده دی.

ځكه حديث كې راځي چې څوک د او داسه نه بعد دا دعا ووايي: نو د جنت په اتو دروازو كې چې د هرې دروازې نه داخليږي، داخل دې شي.

## الفرق بين الملائكة والجن

16- عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خُلِقَت المَلَائِكَةُ مِنْ نُوْرٍ، وَخُلِقَ الجَانُّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ، وَخُلِقَ آدمُ مِمَّا وُصِفَ لَكُمْ". (صحيح مسلم،

رقم الحديث : 60 - (2996)

## د جناتو ( پيريانو) او ملائکو مينځ کې فرق:

د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: ملائکې د نور نه پيدا شوې دي، او پيران د اور نه پيدا شوي دي او ادم عليه السلام د غه څه ( خاورو ) نه پيدا شوی دی دکوم چې تاسو ته وصف بيان شوی دی .

دراوي پيژندنه: ددي حديث راوي ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها ده د نهه (۹) کالو په عمر وه چه نبي کريم ﷺ ورسره نکاح اوکړه او چه کله نبي کريم ﷺ وفات شو ، عائشه رضي الله عنها د اتلس (۱۸) کالو په عمر وه ، د ډيري پوهې خاونده وه او په کرم او سخاوت کښې بې سارې وه ان تري چه ددي سخاوت به په مثال کښې پيش کيدلو، او د نبي کريم ﷺ نه يي ډير احاديث روايت کړي دي چه ددي مسند په دوه زره دوه سوه لس (۲۲۱۰) احاديثو باندې مشتمل دی ، او په کال (۵۷) يا (۵۸) هجري کښې درمضان يا دشوال

دمياشتې په (۱۷) تاريخ باندي دسه شنبي په شپه وفات شوه او د جنازې لمونځ يي ابو هريره رضي الله عنه ادا کړه او د بقيع په هديره کښې دفن کړی شوه .

ددي حديث د فوائدو څخه :

1- دا حديث د پيريانو او ملائکو په مينځ کې فرق کوې هغه داسي چې ملائکې د نور نه پيدا شوي دي، او پيريان د اور پيدا شوي دي.

2- جنات ( پيريان) او شيطانان الله تعالی پيدا کړې په دي حقيقت باندي ايمان لرل واجب دي، د دوې مرګ او ژوند هم د انسانانو په څير دی .

3- دايمان شپږ ارکان دي، يو دهغې نه په ملائکو باندي ايمان لرل دي، ملائکې الله تعالی د نور نه پيدا کړې دي، شپه او ورځ د الله تعالی په ذکر کې مشغوله وې.

اول په انسانانو کې ادم عليه السلام پيدا شوی دی دخاورې نه .

## فضل الصلاة في مسجد قُباء

17- عَنْ عَبْد الله بْنِ عُمر رَضي اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: كَانَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وسَلَّم يَأْتِي مَسْجِدَ قُبَاء رَاكبًا وَمَاشيًا؛ فَيَصَلِّي فِيْه رَكْعَتَيْنِ. (صحيح مسلم، رقم الحديث 516-(1399)، واللفظ له وصحيح البخاري، رقم الحديث 1194).

## په مسجد قبا کې د مانځه فضیلت:

د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى وايي: چې نبي کريم ﷺ مسجد قبا ته راتلو کله په سورلۍ، او کله پايدل، او دوه رکعته مونځ به يي په مسجد قبا کې کوو.

دراوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه په يو لسم نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه :

١- د احديث دلالت کوې چې دمسجد قبا زيارت کول مشروع دي ځکه نبي کريم ﷺ به مسجد قبا ته دهفتې په ورځ راتللو لکه څنګه چې صحيح مسلم کې راغلي دي: د حديث شميره : 520ـ ( 1399)

2- دمسجد قبا فضيلت په نورو حديثو نو کې هم راغلي دى: دهغې نه دوه حديثونه دادي:

اول حديث: "الصَّلاةُ في مسجد قُباء كعمرةٍ"، (جامع الترمذي، رقم الحديث 324، واللفَظ لهَ، وسنن ابن ماجه، رقم الحديث 1411، قال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن غريب، وصححه الألباني.

مسجد قبا کې مونځ کول په ثواب کې د عمري سره برابريږي.

دويم حديث : "من تطَهَّرَ في بيتِه، ثمَّ أتى مسجدَ قباء؛ فصلَّى فيهِ صلاةً، كانَ لَهُ كأجرِ عمرَةٍ"، (سنن ابن ماجهَ،

رقم الحديث 1412، واللفظ له، وسنن النسائي، رقم الحديث 699، وصححه الألباني).

څوک چې په کور کې اودس وکړي بيا مسجد قبا ته راشي، او مونځ په کې وکړي ده ته به دعمري برابر اجر او ثواب ملاو شي.

الإسلام يدعو إلى العناية بالفقراء

18- عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْد رحمه الله قَالَ: رَأَى سَعْدٌ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ لَهُ فَضْلاً عَلَى مَنْ دُونَهُ؛ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَلْ تُنْصَرُونَ وَتُرْزَقُونَ إِلاَّ بِضُعَفَائِكُمْ".

(صحيح البخاري، رقم الحديث 2896).

د ين اسلام بي وزله خلكو سره مرسته او تعاون كولو ته ترغيب وركوي:

مصعب بن سعد رحمه الله وايي: چې دسعد رضي الله عنه ګمان وچې هغه د نورو نه غوره دى نو نبي كريم ﷺوفرمايل: تاسو سره مرسته او مدد نه كيږي مګر

دکمزورو خلکو د وجې نه، او تاسو ته رزق نه درکول کیږي مګر د کمزورو خلکو د وجې نه.

دراوي پیژندنه: ددي حدیث راوي مصعب بن سعد بن ابي وقاص الزهري رحمه الله غوره تابعي دی په کال (103) هجري کې د کوفې په ښار کې وفات شوی دی او هر چې سعد رضي الله عنه دی دهغه پیژندنه په پنځم نمبر حدیث کې ذکر شوي ده.

ددي حدیث د فوائدو څخه :

1- دین اسلام په ټولنه کې ښه تعلقاتو ته ترغیب ورکوي.

2- دین اسلام د کمزورو خلکو سره مرسته کولو ته ترغیب ورکوي.

3- دا حدیث دلالت کوي چې مدد او مرسته د کمزورو خلکو دوجې راځي، نو دهغوي سره نرمي او په غوي رحم کول پکاردی .

## الإسلام يحث على إظهار الحب في الله

19- عَنْ مِقْدَامِ بْنِ مَعْدِيكَرِبَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا أَحَبَّ الرَّجُلُ أَخَاهُ فَلْيَخْبِرْهُ أَنَّهُ يُحِبُّهُ".

(سننَ أبي داود، رقم الحديث 5124، واللفظ له، وجامع الترمذي، رقم الحديث 2391، قال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن صحيح غريب، وصححه الألباني).

## ديو مؤمن سره د الله پاک د رضا په خاطر مينه او محبت كولو ته اسلام ترغيب وركوي.

د مقدام بن معديكرب رضي الله عنه نه روايت دى، چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: كله چې سړى ديو مؤمن ورور سره د الله پاک د رضا په خاطر مينه او محبت كوي، نو هغه ته دې ووايي: چې زه له تاسره د الله د رضا په خاطر مينه كوم.

دراوي پيژندنه:

ددي حديث راوي مقدام بن معديكرب بن عمرو الكندي رضي الله عنه جليل القدر صحابي دی په شام كې دحمص په ښار كې وسيدو اوپه هغه وفد كې هم شامل وو، كوم چې نبي كريم ﷺ ته راغلی وو مقدام رضي الله عنه په د ډيرو اسلامي فتوحاتو په مهال په عراق او شام كې په مختلفو غزواتو كې شامل وو.

همدغه شان مقدام رضي الله عنه د يرموک او قادسيه په جنګ كې هم شريک شوی وو.

د مقدام رضي الله عنه نه د حديثو په كتابونو كې دوه څلويښت حديثونه نقل دی، او په كال اوه اتيا هجرۍ كې په شام كې وفات شوی دی.

ددي حديث د فوائدو څخه :

1- د الله پاک د رضا په خاطر د مؤمن سره مینه او محبت کولو ته د اسلام مبین دین ترغیب ورکوي.

2- څوک چې د یو مؤمن سره د الله پاک د رضا په خاطر مینه او محبت کوي نو باید ده چې هغه مؤمن ته ددي خبر ورکړي ترڅو د هغه ورسره هم مینه او محبت پیدا شي.

3- د یو مؤمن بنده سره د الله پاک د رضا په خاطر مینه او محبت کول پکار دي نه باید د دنیاوي غرضونو په خاطر ترڅو بنده ته هغه فضیلت او ثواب ور په برخه شي کوم چې حدیث کې راغلی دی چې دوي ته به الله پاک په هغه ورځ د عرش سوری نصیب کړي په کومه ورځ چې بل سوری نه وي.

## انتهاز نعمة الفراغ والصحة للخير

20- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ: الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ".

(صحيح البخاري، رقم الحديث 6412).

روغ صحت او د وخت نعمت د خير دپاره غنيمت دى.

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: دوه نعمتونه دي چې ډير خلک د هغې متعلق په تاوان کې دي: روغ صحت او فارغه وخت.

دراوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه په شپږم نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه :

1- مؤمن بايد د وخت او صحت نعمتونه غنيمت وګڼي او دخير په کارونو کې يې بايد استعمال کړي.

2- د الله تعالی د نعمتونو شکر ادکول په بنده باندي لازم دي، او د الله پاک د شکر کولو تقضا داده چې بايد دهغه بندګې وکړې شي، او دهغه د معصيت او نافرماني نه ځان وساتل شي، او هرڅوک چې په دې باره کې کوتاهي کوې هغه تاوني دی.

3- مغبون: نا اميده تاواني، او دوکه شوي ته وايي: نو هر هغه څوک چې د الله پاک د نعمتونو شکر نه اداکوې او دهغه بندګې نه کوې بيله شکه مغبون، تاواني، نا اميده، او دوکه شوی دی.

## الإسلام دين حماية الحقوق

21- عَنْ مَعْقَلَ بْنَ يَسَارٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَا مِنْ عَبْدٍ اسْتَرْعَاهُ اللَّهُ رَعِيَّةً؛ فَلَمْ يَحُطْهَا بِنَصِيحَةٍ إِلاَّ لَمْ يَجِدْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ".

(صحيح البخاري، رقم ال حديث7150، واللفظ له، وصحيح مسلم، رقم الحديث 227 - (142)

## د اسلام مبین دین د حقوقو ساتنه کوي.

د معقل بن يسار رضي الله عنه نه روایت دی چې ما دنبي کریم ﷺ نه اوریدلي دي: هغه فرمایل: يو بنده چې الله تعالی حاکم ( مشر) جوړ کړې په رعیت ( کشرانو ) باندي او دی د هغه کشرانو سره دخیر خواهي معامله نه کوي، الله پاک به په ده باندي د جنت بوې حرام کړي.

دراوي پیژندنه: ددي حدیث راوي معقل بن یسار المزني البصري رضي الله عنه جليل القدر صحابي دی د شام نه په وفد کې نبي کریم ﷺ ته راغلی وو، او د صلح

حدیبیه نه مخکې د ایمان ددولت نه برخمن شوی وو، دصلح حدیبیه په مهال دهغه صحابه کرامو په جماعت کې شامل وو، کومو چې د نبي کریم ﷺ سره د وني لاندي په مرګ باندي بیعتونه کول، ده نه دحدیثو په کتابونو کې څلور دیرش حدیثونه نقل دي، د ابو بکر رضي الله عنه په درو خلافت کې یي د مرتدینو په خلاف په جنګ کې شامل وو او همدغه شان د فارس فتح کولو دپاره په جنګونو کې یي هم شرکت کړی دی،او دعمربن الخطاب رضي الله عنه په دور خلافت کې د بصرې والي وو، او دهغه د حکم سره سم یي په بصره کې د اوبو نهر تاسیس ( جوړ) کړ په همدغه بصره کې وو، تر دې چې په کال پنځه شپیته هجري کې وفات شو.

ددي حدیث د فوائدو څخه :

1- داحدیث سخته ویره ورکوې هغه مشرانو ته چې دوکه او خیانت کوې د خلکو په حقوقو کې هغه داچې

په داسي کسانو باندي جنت حرام دی چې دوکه او خيانت کوې، بلکه د دوې دپاره سخت درناک عذاب دی
2- د اسلام مبین دین همیشه د هر قسمه حقوقو ساتنه کوې، او په تاکید سره حکم کوې چې امانت باید خپل اهل ته وسپارل شي.

للوالد أخذ مال ابنه قدر الحاجة

22- عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّ رَجُلاً قَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! إن لِي مَالاً وَوَلَداً، وَإِنَّ أَبِي يُرِيْدُ أَنْ يَجْتَاح مَالِي؛ فَقَالَ: "أَنْتَ وَمَالُكَ لأَبِيكَ".
(سنن ابن ماجه، رقم الحديث 2291، وصححه الألباني).

پلار دحاجت سره سم دخپل زوي مال اخستلی شي.

د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما نه روايت دی، چې د نبي کريم ﷺ نه یو سړی تپوس وکړو، چې زما بچې شته او پلارمي غواړې چې زما مال واخلي، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: ته او ستا مال ستا د پلاردی.

دراوي پیژندنه: ددي حديث راوي جابر بن عبد الله الانصاري جليل القدر صحابي دی ، كله چه د مديني خلكو د نبي كريم ﷺ سره بيعت كولو نو ده هم دخپل پلار سره يوځاي دنبي كريم ﷺ سره بيعت اوكړو او همدارنګه د بيعت رضوان سعادت ورته هم ور په برخه شوی دی د حديثو په كتابونو كښې دده نه د نبي كريم ﷺ ډير احاديث نقل دي ، دده مسند په يو زرو پنځه سوه څلويښت (۱۵۴۰) احاديثو باندي مشتمل دی او په كال دري اويا (۷۳) هجري كښې وفات شوی دی او بعض تاريخ پوهانو دده دفات دتاريخ نيټه بله هم ښودلې ده .

ددي حديث د فوائدو څخه :

1- ددي حديث نه معلوميږي، چې پلار د خپل زوي مال د ضرورت مطابق استعمالولی شي، خو د مال حقيقي مالک به دده زوي وي، او دا حديث د حقوقو سره تعلق لري هغه دا چې په بچې باندي د مور او پلار سره

احسان کول واجب دي، د هغوې خدمت به کوې او د ضرورت په وخت به په هغوې باندي خرچه هم کوې.

2- پلار لره رواه نه دي چې د یو زوې مال واخلي او بل ځوې ته یي ورکړې، بغیر دسخت حاجت نه ځکه چې د مال اصلي مالک دهغه زوې دی لکه دي ایت نه معلومیږې: (وَلأَبَوَيْه لكُلِّ وَاحد منْهُمَا السُّدُسُ ممَّا تَرَكَ إنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ؛ فَإنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلأُمِّه الثُّلُثُ)، سورة النساَء، جزء من الأية 11.

او د بچې په مال کې چې ( مړشي) د مور او پلار هر یو دپاره شپږمه برخه ده دهغه مال نه چې ده پریښی وی خو په دې شرط چې د مړي بچې یي وي، او که چیرته بچې یي نه وي نو مور او پلار یي وارثان وي، نو د مور دپاره دریمه برخه ده.

ددي نه واضحه معلومه شوه چې د مال اصلي مالک هغه زوې دی پلار نه دی.

نو دحديث معنى داده: چې کله پلار محتاجه وي نو کولی شي چې د حاجت مطابق دزوي مال استعمال کړي، بغير ددينه چې خپل زوي ته بي حاجته ضرر ورسوي.

په حديث لفظ ( لِأَبِيْكَ) کې لام د ملکيت دپاره نه دی بلکه لام دلته د اَنتفاع دپاره دی يعني د ضرورت په وخت پلار د خپل زوي د مال نه فائده اخستلی شي.

لا يجوز وضع اليد على الخاصرة في الصلاة

23- عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: "نَهَى النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ مُخْتَصِراً".

(صحيح البخاري، رقم الحديث 1220، واللفظ له، وصحيح مسلم، رقم الحديث 46 - (545)

مانځه کې په تشو باندي لاسونه کيښودل جواز نلري.

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، چې نبي کريم ﷺ ددينه منع کړې چې په مانځه کې دی يو سړې په تشو باندي لاسونه کيږدي.

دراوي پيژندنه: ددي حديث دراوي پيژندنه مخکې اول نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه :

1- په مانځه کې د اختصار يوه معنى داده: چې مونځ کونکي دمانځه د ادا کولو په وخت لاسونه په خپلو تشو باندي کيږدي.

2- مونځ کونکی بايد په ښائسته شکل باندي مونځ ادا کړي.

3- دي حديث نه معلوميږي: چې مانځه کې په تشو باندي لاسونه کيښودل جواز نلري.

## جواز الشرب والأكل قائما

24- عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: كُنَّا نَأْكُلُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَمْشِي، وَنَشْرَبُ وَنَحْنُ قِيَامٌ.

(جامع الترمذي، رقم الحديث 1880، واللفظ له، وسنن ابن ماجه، رقم الحديث 3301، وقال الإمام الترمذي عن

هذا الحديث بأنه: حسن صحيح غريب، وصححه الألباني)

په ولاړه خوراک او څښاک جواز لري:

د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی، چې مونږ به د نبي کریم ﷺ په زمانه کې په روانه او ولاړه خوراک او څښاک کولو.

دراوي پیژندنه: ددي حدیث دراوي پیژندنه مخکې یولسم نمبر حدیث کې ذکر شوي ده.

ددي حدیث د فوائدو څخه :

1- دا حدیث په ولاړه دخوراک او څښاک په جواز باندي دلالت کوي، او ددي تایید د نبي کریم ﷺ په فعل سره هم ثابت دی دزیات تفصیل دپاره جامع ترمذي حدیث شمیره 1883 وګورئ امام ترمذي دي حدیث ته حسن صحیح حدیث ویلی دی، او امام الباني هم دا حدیث حسن ګرځولی دی.

## فضل سورة الإخلاص

25- عَنْ أَبِي الدَّرْدَاء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَقْرَأَ فِي لَيْلَةٍ ثُلُثَ الْقُرْآنِ؟ قَالُوا: وَكَيْفَ يَقْرَأُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ؟ قَالَ: "(قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ) تَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ".

(صحيح مسلم، رقم الحديث 259- (811)

د سورت اخلاص فضيلت:

د ابو الدرداء رضي الله عنه نه روايت دی، چې نبي کريم ﷺفرمايلي دي: ايا په تاسو کې يو کس دا نشي کولی چې دشپې دريمه برخه قران تلاوت کړي؟ صحابه کرامو وويل دا به څنګه وکړی شي، نبي کريم ﷺ وفرمايل: (قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ) لو ستل په اجر او ثواب کې د قران کريم د دريمي برخي سره برابريږي.

دراوي پيژندنه: ددي حديث راوي أبو الدرداء رضي الله عنه دی دده نوم عويمر بن زيد بن قيس الانصاري مشهور صحابي دی، او د بدر په ورځ د اسلام په دين مشرف شو، او ده

ته ددي امت حکيم وايي، په دمشق ښار کښي قاضي او دقران د قاريانو سردار وو او همدارنګه د هغه صحابه کرامو د جملې څخه دی کومو چه د قران کريم دراجمع کولو خدمت کړی دی اودرَسُولُ اللهِ ﷺ په ژوند يي قران په يادو زده کړی وو او د نبي کريم ﷺ څخه يي يو سلو نهه اويا احاديث روايت کړي دي،او په کال (٣١) (٣٢) هجري کښې د عثمان رضي الله عنه د فات کيدلو نه دري (٣) کاله مخکې وفات شو او عمر يي دوه اويا (٧٢) کاله وو.

ددي حديث د فوائدو څخه :

1- دا حديث شريف د سورت أخلاص فضيلت بيانه وي هغه داچې ددي سورت تلاوت په اجر او ثواب کې دقران کريم ددريمې برخې د اجر او ثواب سره برابريږي.

2- مؤمن بايد دقران کريم د تلاوت ډير اهتمام وکړي ځکه چې دقران کريم تعليمات ددنيا اواخرت د سعادت او نيک بختي سبب دی .

## حث الشباب على الزواج

26- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ! مَنِ اسْتَطَاعَ مِنكُم الْبَاءَةَ؛ فَلْيَتَزَوَّجْ؛ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ، وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ؛ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ؛ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ".

(صحيح مسلم، رقم الحديث 3 - (1400)، واللفظ له، وصحيح البخاري، رقم الحديث 5066).

## ځوانان بايد ودونه وکړي.

د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه روايت دی، چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: ای د ځوانانو جماعته تاسو کې چې څوک د واده کولو طاقت لري نو واده دې وکړي بيشکه واده کول سترګې د بد نظرۍ نه ساتي، او شرمګاه دحرامو نه ساتي، او څوک چې د واده کولو طاقت نلري هغه دې روژې نيسي، بيشکه روژې نيول د هغه شهوت کموي.

دراوي پيژندنه: ددي حديث دراوي پيژندنه مخکې دويم نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه :

1- (الْبَاءَةَ) دې لفظ نه مراد د نکاح کولو طاقت دی، يعني څوک چې په تاسو کې د واده کولو طاقت لري نو هغه دې واده وکړې اوهغه څوک چې د واده طاقت نلري هغه دي روژې نيسي، او په حديث کې لفظ د وجاء راغلی دی ددي مقصد هغه دادی چې په روژه نيولو سره د انسان شهوت کميږي

2- دا حديث هغه ځوانانو ته چې د واده طاقت لري دواده کولو ترغيب ورکوې، ځکه چې واده سره د انسان نفس پاکيږي.

## مِنْ خَصَائِصِ النَّبِيِّ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

27-عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أُعْطِيتُ خَمْسًا لَمْ يُعْطَهُنَّ أَحَدٌ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ قَبْلِي: نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ، وَجُعِلَتْ لِي الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا، وَأَيُّمَا رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَدْرَكَتْهُ الصَّلَاةُ؛ فَلْيُصَلِّ، وَأُحِلَّتْ لِيَ الْغَنَائِمُ، وَكَانَ النَّبِيُّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً، وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ كَافَّةً، وَأُعْطِيتُ الشَّفَاعَةَ". (صحيح البخاري، رقم الحديث 438، واللفظ له، وصحيح مسلم، رقم الحديث 3 - (521)

## د نبي کريم ﷺ ځينې خصوصيات

د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما نه روايت دی، چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: ماته پنځه داسي کارونو راکړی شوي دي، چې هغه زمانه مخکې هيڅ يو پيغمبر ته نه دي ورکړی شوې، ديوې مياشت د مزل په فاصلې سره زمانه زما دښمنان ويريږې، ټوله ځمکه زما دپاره پاکه او دمسجد حيثيت لري، نو زما په هر امتي باندي چې د

مانځه وخت راشي مونځ دې وکړي، او زما دپاره غنيمتونه حلال شوي دي، او مخکې به پيغمبر ديوخاص قوم دپاره راليږل کيده او زه دټولو انسانانو دپاره پيغمبر يم،او ماته لوې شفاعت راکړی شوی دی.

دراوي پيژندنه: ددي حديث دراوي پيژندنه مخکې دويشتم نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه :

1- بيشکه الله پاک نبي کريم ﷺته يو شمير خصو صيات ورکړي وو، چې ځينې د هغې نه په لاندي توګه بيانيږي: نبي کريم ﷺ ته رعب ورکړی شوی وو الله پاک به دهغه د دښمنانو په زړونو کې ويره اچوله.

2- نبي کريم ﷺ او دهغه د امت دپاره ټوله زمکه پاکه ده چې کله اوبه نه وي نو په زمکه باندي تيمم وهل او مونځ کول مشروع دي.

3- د امت محمدي دپاره غنيمتونه حلال دي، غنيمت هغه مال ته وايي: کوم چې د جهاد په نتيجه کې مجاهدينو ته په لاس ورشي.

4- نبي کريم ﷺ ته الله پاک د قيامت په ورځ شفاعت کبرى ورکړى دى اوديته مقام محمود وايي دقيامت په ورځ به نبي کريم ﷺ دټولو انسانانو شفاعت کوې چې الله پاک حساب ورسره شروع کړې.

## من أوصاف الجنة

28- عَنْ أَبِيْ مُوْسَى الْأَشْعَرِيِّ عَبْدِ اللهِ بْنِ قَيْسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ فِي الْجَنَّةِ خَيْمَةً مِنْ لُؤْلُؤَةٍ مُجَوَّفَةٍ، عَرْضُهَا سِتُّوْنَ مِيلًا، فِي كُلِّ زَاوِيَةٍ مِنْهَا أَهْلٌ، مَا يَرَوْنَ الْآخَرِيْنَ، يَطُوْفُ عَلَيْهِمُ الْمُؤْمِنُ".

(صحيح مسلم، رقم الحديث 24 - (2838)، واللفظ له، وصحيح البخاري، رقم الحديث 4879).

## د جنت ځيني صفتونه:

د ابو موسى الاشعري رضي الله عنه روايت دى، چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: بيشكه چې په جنت كې يوه خيمه دداسي ملغلري نه جوړه ده چې دهغې مينځ خالى دى دهغې اوږدوالى شپيته ميله دى، او دهغې هر طرف كې به دهغه اهل وې چې د بل طرف واله به يي نهويني او مؤمن به د دې ټولو خواته ورځې.

دراوي پيژندنه: ددي حديث راوي ابو موسى الاشعري رضي الله عنه دى ديمن نه مكې مكرمې ته راغلى وو ، نو داسلام په دين مشرف شو ، او بيرته يمن لاړو بيا حبشې ته لاړو او د خيبر د فتحې نه روستو مدينې ته راغى او په ډيرو جهادونو او غزاګانو كښې شريک شوى دى د ډير علم عبادت او پوهې خاوند وو او په ډير ښائسته اواز به يي دقران كريم تلاوت كولوپه كال څلور څلويښت (۴۴) هجري كال كښې په كوفه يا مدينه كښې وفات شوى دى .

ددي حديث د فوائدو څخه :

1- دی حدیث کې د جنت یادونه شوی ده، او په جنت باندي ایمان لرل واجب دي.

2-جنت دهرقسمه نعمتونوکوردی اوالله تعالی د مؤمنانو بندګانو دپاره تیار کړی دی،هر قسمه نعمتونه خوراکونه میوه جات په جنت کې تیار دي.

3-درست ایمان، او نیک عمل جنت ته د داخليلو سبب دی.

جواز الاشتراك في الهدي والأضحية

29- عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْد اللَّه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ قَالَ:"الْبَقَرَةُ عَنْ سَبْعَة، وَالْجَزُور عَنْ سَبْعَة". (سنن أبي داود، رقم الحديث 2808، وصححه الألباني).

اضحیه ( د اختر قرباني) او هدیه د ( حج قرباني) کې شراکت جواز لري.

د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما نه روایت دی، چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: په قربانۍ کې غواګاني، او وښان د اوه کسانو نه کافي کیږي.

دراوي پیژندنه: ددي حدیث دراوي پیژندنه مخکې دویشتم نمبر حدیث کې ذکر شوي ده.

ددي حدیث د فوائدو څخه :

1- په قربانۍ کې د اوښ متعلق علماو اختلاف کړی دی دځیني علماو دا ویناده چې اوښ کې یواځې اوه کسان شرکت کولی شي ځیني نور بیا وایي: چې تر لسو کسانو پوري په اوښ کې شرکت کولی شي.

2- دي حدیث شریف نه معلومیږي چې د قرباني کولو په مهال په غواګانو او وښانو کې شرکت کول مشروع دی او هر چې ګډي بیزي دي په هغې کې شرکت کول مشروع نه دي .

## تفاوت عذاب أهل جهنم

30- عَنْ سَمُرَةَ رَضِي اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمعَ نَبِيَّ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ منهُمْ منْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى كَعْبيه، وَمنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ إِلَى حُجْزَته، وَمنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ إِلَى عُنُقه". (صحيح مسلم، رقم الحَديث 32 - (2845)

په جهنم کې د جهنميانو عذابونه مختلف دي

د سمره رضي الله عنه نه روايت دی، چې ما دنبي کريم ﷺ نه اوريدلي دي هغه فرمايل: بعضي به په جهنميانو کې داسي خلک وې چې د جهنم اور به دهغوې تر ګټکيو پوري راغلی وې،او دځينو به تر بډي پوري،او دځينو به تر ځټ پوري د جهنم اور راختلی وې.

دراوي پيژندنه: ددي حديث راوي سمره بن حندب الفزاري رضي الله عنه جليل القدر صحابي دی، په ده باندي د جاهليت زمانه نه ده راغلې ځکه چې دی د نبي کريم ﷺ سره په داسي وخت کې ملاو شو چې ماشوم وو، سمره رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ سره په

غزواتو کې هم شریک شوی دی ، په سمره رضي الله عنه کې ډیر ښه خویونه لکه شجاعت، سخاوت وغیره راجمع شوي وو، د حدیث په کتابونو ده نه د نبي کریم ﷺ سل حدیثونه نقل دي، سمره رضي الله عنه د کوفې او دبصرې د ښارونو والی وو، سمره رضي الله عنه د خوارجو په مقابل کې ډیر سخت وو، سمره رضي الله عنه په کال اته پنځوس هجري کې وفات شوی دی.

ددي حدیث د فوائدو څخه :

1- دا حدیث دلالت کوې چې په جنهم کې د جهنمیانو عذابونه مختلف دی ځکه چې ګناهونه مختلف دي او جهنمیانو ته عذابونه د هغوې د ګناهو نو په اندازه ورکولی شي.

2- دا حدیث ویره ورکوې د هغه ګناهونو نه کوم چې جنهم ته د تللو سبب ګرځې.

## أيام عيد الأضحى

31- عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَوْمُ عَرَفَةَ، وَيَوْمُ النَّحْرِ، وَأَيَّامُ التَّشْرِيْقِ، عِيْدُنَا أَهْلَ الإِسْلاَمِ، وَهِيَ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ".

(سنن أبي داود، رقم الحديث 2419، وجامع الترمذي، رقم الحديث 773، واللفظ لهما، وسنن النسائي، رقم الحديث 3004، وقال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن صحيح، وصححه الألباني).

## د لوې أختر ورځې

د عقبه بن عامر رضي الله عنه نه روايت دی، چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: د عرفې ورځ او د قرباني ورځ او د ايام تشريق ورځې زمونږ د مسلمانانو داختر او دخوراك او څښاك ورځې دي.

دراوي پيژندنه: ددي حديث راوي عقبه بن عمرو ابو مسعود الانصاري رضي الله عنه مشهور صحابي دی كله چه د دوهم ځل لپاره د مديني خلكو د نبي كريم ﷺ سره

بيعت کولو ، نو دا هم په دغه بيعت کولو کښي موجود وو، اودغه مهال دی دعمر په لحاض سره په دوي ټولوکښي دکم عمرخاوند وو.

او همدارنګه ده د نبي کريم ﷺ سره د أحد په غزا کښي او په هغه ټولو غزاګانو کښېِ چه داحد د غزا نه روستو واقع شوي دي شرکت کړی دی .

او بيا په روستو زمانه کښې کوفې ته لاړو او هلته او سيدلو کله چه علي رضي الله عنه د صفين جنګ ته تللو نو دايي دخپل جانشين په توګه په کوفه مقرر کړه او دده مسند په (۱۰۲) احاديثو باندي مشتمل دی او په کال (۴۱) هجري په مدينه کښې وفات شو ، په دي اړوند څه نور اقوال هم شته .

ددي حديث د فوائدو څخه :

1- دا حديث شريف د لالت کوېِ، چې دعرفې ورځ اوايام تشريق سره د يوم النحر نه دا داختر ورځې دی په اسلام کې خو هغه څوک چې قرباني کوېِ نو دهغه دپاره

د اختر ورځې د یوم النحر نه یعني د ذالحجې د لسمي ورځې نه شروع کیږې.
2- ددي حدیث نه معلومیږې، چې د لوې اختر پنځه ورځې دي دعرفې ورځ نه تر اخري ورځې د أيام تشريق پوري دا ټولې د اختر او دخوراک او څښاک ورځې دي مګر دحاجې قارن او متمتع دپاره جائز ده چې دا ورځې روژې ونیسي کله چې دهغه سره هدیه د حج نه وې همدغه شان دعرفې د ورځې روژه نیول د هغه چا دپاره مشروع ده چې دحج دپاره يي احرام ( د حج نیت يي نه وې کړې) .
3- د اسلام په مبین دین کې اختر د هغه موسم نوم دی چې په هغې کې مسلمانان د الله تعالی شکر ادا کوې او دخو شحالۍ اظهار کوې.
4- دکال په ټولو ورځو کې غوره ورځ د قرباني ورځ ده نو دي امله لوې اختر د وړوکې اختر په نسبت سره غوره دی

Download From; Aghalibrary.com

الصَّوْمُ والأضحية وصلاة العيد مع الناس

32- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الصَّوْمُ يَوْمَ تَصُومُونَ، وَالفِطْرُ يَوْمَ تُفْطِرُونَ، وَالْأَضْحَى يَوْمَ تُضَحُّونَ".

(جامع الترمذي، رقم الحديث 697، واللفظ له، وسنن أبي داود، رقم الحديث 2324 وسنن ابن ماجه، رقم الحديث 1660، وقال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن غريب، وصححه الألباني).

روژه او اختر د ټولو مسلمانانو سره شريک ادا کول.

دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: د روژې ورځ به هغه وې کله چې تاسو ټول روژه ونيسئ، او د اختر ورځ به هغه وي کله چې تاسو ټول اختر وکړې، او د لوې اختر ورځ به هغه وي کله چې تاسو ټول لوې اختر وکړې.

دراوي پيژندنه: ددي حديث دراوي پيژندنه مخکې اول نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

Download From; Aghalibrary.com

ددي حديث د فوائدو څخه :

1- دا حديث شريف دا لار ښونه کوي چې د مسلمانانو په معاشره او ټولنه کې بايد اتحاد او اتفاق وي نو يو مسلمان به د نورو مسلمانانو سره يوځاې روژه نيسي او دهغوي سره به يو ځاي اختر کوي.

2- د اسلام مبين دين د هميشه دپاره اتحاد، او اتفاق ته دعوت ورکوي، او د هغه اسبابو نه منع کوي کوم چې د اختلاف سبب ګرځي.

التحذير من كبائر الذنوب

33- عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللَّهَ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ثَلاَثَةٌ لاَ يَنْظُرُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَيهِمْ يَومَ الْقِيَامَةَ: الْعَاقُّ لِوَالِدَيْهِ، وَالْمَرْأَةُ الْمُتَرَجِّلَةُ، وَالدَّيُّوثُ، وَثَلاَثَةٌ لاَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ: الْعَاقُّ لِوَالِدَيْهِ، وَالْمُدْمِنُ عَلَى الْخَمْرِ، وَالْمَنَّانُ بِمَا أَعْطَى".

(سنن النسائي، رقم الحديث 2562، حسنه الألباني وصححه).

Download From; Aghalibrary.com

## د کبیره ګناهونو نه ځان ساتل

د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی، چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: دري کسان دي چې د قیامت په ورځ به ورته الله پاک نه ګورې، د مور اوپلار نافرمانه هغه ښځه چې د نارینه و سره مشابهت کوې، او دیوث او دري کسان دي چې جنت ته نشي داخلیدلی، د مور او پلار نافرمانه، همیشه شرابي، او زبادنه کونکی.

دراوي پیژندنه: ددي حدیث دراوي پیژندنه مخکې یولسم نمبر حدیث کې ذکر شوي ده.

ددي حدیث د فوائدو څخه :

1- په دي حدیث کې د الله تعالی د صفاتو نه د نظر صفت ذکر شوی دی، د الله تعالی په صفاتو باندي کوم چې په قران او سنت کې ذکر وې ایمان لرل واجب دي څنګه چې د هغه دشان سره مناسب وې، بغیر د تعطیل تمثیل، تشبیه، تحریف وغیره.

Download From; Aghalibrary.com

2- دي حديث کې د ( مترجله) لفظ راغلی دی، مترجله هغه زنانه ته وايي، کومه د سړو سره مشابهت کوې په لباس شکل وغيره کې.

اود ( ديوث) هغه سړي ته وايي: چې بيغرته وې دخپل اهل باره کې د فحشا زنا وغيره متعلق بيغرتي کوې.

3- ( منان) هغه چاته وايي: چې د احسان کولو نه بعد د هغې زبادنه کوې.

تحريم النَّجْش

34- عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: نَهَى النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ النَّجْشِ.

(صحيح البخاري، رقم الحديث 2142، واللفظ له، وصحيح مسلم، رقم الحديث 13 - (1516)،)

دوکه حرام ده

د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی ، چې نبي کريمﷺ د دوکه کولو نه منع فرمايلي ده.

Download From; Aghalibrary.com

دراوي پيژندنه: ددي حديث دراوي پيژندنه مخکې يولسم نمبر حديث کې ذکر شوي ده.
ددي حديث د فوائدو څخه :
1- دا حديث د نجش ( دوکه ورکولو) په حرمت باندي دلالت کوې، ( نجش) أصل کې د خرڅلاو شيانو په قيمت کې اضافه راوستلو ته وايي، هغه داسي چې يو کس نه غواړې چې يوشيز واخلې خو په بل چا باندي د قيمت زياتولو دپاره د يو شيز قيمت زيات کړې.
2- داسلام په مبين دين کې بيع او شرا (أخستل خرڅول) رواه او جائز دي بلکه د اسلام دين د تجارت طرف ته ترغيب ورکوې، خو ځيني قسمونه ( ډولونه) په بيعه کې حرام دي او هغه ځکه چې په هغې کې خو يا بل ته ضرر وې يا په هغې کې دوکه وې، يا بيعه د نامعلوم شيز وې چې دهغې نه اختلاف جنګ جګړه پيداکيږې نو داسي ټول قسمونه د بيعې حرام دي.

Download From; Aghalibrary.com

## الذكر بعد الْفَرَاغِ منَ الصّلاَة

35- كَتَبَ الْمُغيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ رَضِي اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا فَرَغَ منَ الصّلاَة وَسَلَّم، قَالَ: "لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَه، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَديرٌ، اَللَّهُمَّ! لاَ مَانعَ لمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ منْكَ الْجَدُّ".

(صحيح مسلم، رقم الحديث 137- (593)، واللفظ له، وصحيح البخاري، رقم الحديث 844).

## د مانځه نه بعد مسنون اذكار

مغيره بن شعبه رضي الله عنه عمربن الخطاب رضي الله عنه ته په خط كي ليكلي وو، نبي كريم صلى الله عليه وسلم چې به كله دمانځه نه فارغه شو او سلام به يي وګرځوو، نو دا داعا به يي ويله: (لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰه وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَديرٌ، اللَّهُمَّ لاَ مَانعَ لمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ.)

بیله الله نه بل هیڅوک دعبادت لائق نشته یو دی شریک نلري ده لره دکائناتو با دشا هي ده اوده لره پوره ستاینه ده اوهغه په هرڅه قا در دی الهي چاته چه څه ورکړې دهغي منعه کونکی نشته اوچانه چه څه منعه کړې دهغي ورکونکی نشته او فایده نه ورکوی مالدارته مال دهغې ستا د عذاب نه .

دراوي پیژندنه: ددي حدیث راوي ابو عبد الله مغیره بن شعبه رضي الله عنه مشهور او جلیل القدر صحابي دی.

مغیره رضي الله عنه د طائف په ښار کې پیدا شوی دی او د غزوه خندق په مهال یي د اسلام مبین دین قبول کړ او د صلح حدیبیه په موقع هم حاضر وو، بیا وروسته د ابو بکر او عمر رضي الله عنهما په زمانه د خلافت کې یي په ډیرو اسلامي فتوحاتو کې شرکت هم کړی دی په معرکو د یمامه یرموک، او قادسیه کې هم شریک وو، مغیره رضي الله عنه د عمر بن الخطاب رضي الله عنه د خوا نه د کوفې د ښار امیر مقرر شوی وو، بیا د امیر معاویه

رضي الله عنه په زمانه کې د کوفې د ښار والي د دويم ځل دپاره مقرر شو او ترمرګه بيا د کوفې والي وو، مغيره رضي الله عنه عقلمند پوهه او شاعر وو، د حديث په کتابونو کې د مغيره رضي الله عنه يو سلو شپږ ديرش حديثونه نقل دي.

مغيره رضي الله عنه په کال پنځوس هجري کې د کوفې په ښار کې وفات شو، او د هغه ټول عمر اويا کاله وو.

ددي حديث د فوائدو شخه:

1- دي حديث نه د دي دعا مشروعيت معلوميږي : (لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اللَّهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ.)

بَيله الله نه بل هيڅوک دعَبادت لائق نشته يو دى شريک نلري ده لره دکائناتو با دشا هي ده اوده لره پوره ستاينه ده اوهغه په هرڅه قا در دی الهي چاته چه څه ورکړې دهغي منعه کونکی نشته اوچانه چه څه منعه

کړې دهغي ورکونکی نشته او فایده نه ورکوی مالدارته مال دهغې ستا  د عذاب نه
2-دي مخکې ذکر شوې دعا کې د الله تعالی د وحدانیت اعلان دی او ورسره داحقیقت هم ذکر دی چې دعبادت او بندګې حقدار یواځې د الله پاک ذات دی هغه په ذات او صفاتو او افعالو کې تنها (یواځې)  دی .
3- د(وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ.) معنی داده: فایده نه ورکوی مالدارته مال دهغې ستا دعذاب نه بلکه بنده ته د هغه نیک عملونه فائده ورکوې ځکه چې بنده په هر وخت او هر حالت کې الله پاک ته محتاجه دی اګر که په دنیا کې د هغه مالونه وغیره ډیر هم وې .

## من أذكار المساء

36- عَنْ عَبْد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ كان رَسُوْلُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ إِذَا أَمسى قَالَ: "أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لله، وَالحَمْدُ لله، لَاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ، لاَ شَرِيْكَ لَهُ، اَللَّهُمَّ! إِنِّيْ أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ هَذِه اللَّيْلَة وخَيْرِ مَا فيها، وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِهَا وَشَر مَا فِيهَا، اَللَّهُمَّ! إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْكَسلِ، وَالْهَرَمِ، وَسُوْء الْكبرِ، وَفتْنَة الدُّنْيا، وعَذَابِ الْقَبْرِ".

(صحيح مسلم، رقم الحديث 76 - (2723)

## د ماښام اذکار

د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی، چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم چې به كله ماښام كړ دا داعا به يي ويله: أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لله، وَالحَمْدُ لله، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ، لاَ شَرِيْكَ لَهُ، اَللَّهُمَّ! إِنِّيْ أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ هَذِه اللَّيْلَة وخَيْرِ مَا فيها، وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِهَا وَشَر مَا فِيهَا، اَللَّهُمَّ! إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْكَسلِ، وَالْهَرَمِ، وَسُوْء الْكبرِ، وَفتْنَة الدُّنْيا، وعَذَابِ الْقَبْرِ".

ماښام شو پر مونږ او پاچاهي ټوله الله پاک لره ده، بیله الله پاک نه بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه یو دی شریک نلري، ای زما ربه په دې شپه کې چې څه خیر وي او ددینه وروسته چې څه خیر وي زه ستانه دهغې سؤال کوم، او په دي شپه کې چې څه شر وي او ددي نه وروسته چې څه شر وي زه په تاپوري د هغې نه پناه غواړم، ای زما ربه زه په تاپوري دسستۍ نه او ډیري کمزورې نه او لوې عمردبد والي نه او ددنیا دفتنو نه او د قبر د عذاب نه پناه غواړم.

دراوي پیژندنه: ددي حدیث دراوي پیژندنه مخکې دویم نمبر حدیث کې ذکر شوي ده.

ددي حدیث د فوائدو څخه:

1- مؤمن باید د ورځې په شروع او اخر کې د الله تعالی د ذکر کولو اهتمام وکړي،ځکه چې په دې سره بنده ته دنیا او اخرت سعادت او خو شبختي ور په برخه کیږي،

نو باید ده چې مؤمن د سهار او ماښام د اذکارو پابندي وکړي.

2- د سهار او ماښام اذکارو ویلو وخت کې د علماو ډېر اقوال دي خو غوره داده چې د ځمر پریوتلو نه بعد وویل شي.

## من علامات أفضل الناس

37-عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قِيْلَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: "كُلُّ مَخْمُومِ الْقَلْبِ صَدُوْقِ اللِّسَانِ"، قَالُوْا: صَدُوْقُ اللِّسَانِ نَعْرِفُهُ، فَمَا مَخْمُومُ الْقَلْبِ؟ قَالَ: " هُوَ التَّقِيُّ النَّقِيُّ، لاَ إِثْمَ فِيْهِ، وَلاَ بَغْيَ، وَلاَ غِلَّ، وَلاَ حَسَدَ".

(سنن ابن ماجه، رقم الحديث 4216، وصححه الألباني).

## غوره انسان او د هغې علامات

د عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دی چې دنبي کريم ﷺ نه تپوس وکړی شو چې غوره انسان څوک دی؟

نبي کريم ﷺ وفرمايل:هر(مخموم القلب)هغه څوک چې دهغه زړه پاک وې او رشتونی وي، صحابه کرامو وويل: رشتنی خو مونږ پيژنو خو مخموم القلب څه ته وايي: نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا هر هغه پاک کس دی چې دګناه نه ځان ساتي، او د هغه په زړه کې حسد دوکه خيانت وغيره نه وي.

دراوي پيژندنه: ددي حديث راوي عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه قريشې مشهور صحابي دی او ډيرو فضيلتونو خاوند دی .

او په بعضي غزاګانو کښې د نبي کريم ﷺ سره هم شريک شوی دی . عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه ډير

هو ښيار او په ښه توګه به يي کارونه سرته رسول ، ځکه خو معاويه رضي الله عنه ده لره په کوفه باندي والي مقرر کړی وو .

دحديثو په کتابونو کښې دده نه دنبي کريم صلى الله عليه وسلم اووه سوه (۷۰۰) احاديث نقل دي ده به په مصرکښې په مسجد الفسطاط چه په مسجد عمرو بن العاص سره مشهور دی ، احاديث بيانول ، او فتوا به يي هم ورکوله دده نه د مصر شام او دحجاز ډيرو خلکو علم زده کړو او په کال پنځه شپيته (۶۵) هجري کښې په مصر کښې وفات شو او بعضي علماو رايي داده چه په شام کښې وفات شوي بعضې نور بيا وايي چه په مکه کښې وفات شوی دی .

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- دي حديث شريف کې د زړه د پاکوالي اسباب ذکر شوي دي هغه داچې: د الله پاک نه ويره، رشتونولی دګناهونونه نه ځان ساتل،ظلم زياتی نه کول، اودبغض

حسد نه ځان ساتل وغيره په دي سره د انسان زړه پاکيږي.

2- تقوى د الله پاک حکمونه منل، د هغه سره مينه کول د هغه نه ويره کول، او دهغه د نافرماني نه ځان ساتل ديته تقوى وايي.

3- د صحيح ايمان په وجه باندي انسان د ښو اخلاقو نه برخمن کيږي.

## تَحْرِيْمُ غَصْبِ حقوق الأخرين

38- عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنِ اقْتَطَعَ حَقَّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ بِيَمِيْنِهِ؛ فَقَدْ أَوْجَبَ اللهُ لَهُ النَّارَ، وَحَرَّمَ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ" ؛ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: وَإِنْ كَانَ شَيْئًا يَسِيْرًا يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ: "وَإِنْ قَضِيْبًا مِنْ أَرَاكٍ".

(صَحيحَ مسلم، رقم الحديث 218 - (137)

د بل چا حقوق غصب كول ( په زوره اخستل) حرام دي
د ابو امامه رضي الله عنه نه روایت دی، چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: چاچې په ناحقه قسم كولو سره د بل چا حق واخست، بیشکه الله پاک په هغه باندي د جهنم اور مقرر کړی او په هغه باندي جنت حرام دی، نو يو كس ورته وويل ای دالله رسوله: كه دا څيز لږ وې بياهم؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: اګر كه د اراک د وني يوه لښته هم وي.
دراوي پيژندنه:ددي حديث راوي ابو امامه صدي بن عجلان بن وهب الباهلي رضي الله عنه دی ، دډير فضيلت او زهد خاوند وو ، او دالله تعالى په لاره كښي جهاد كولو سره يي ډيره مينه درلوده د بدر دغزا نه علاوه په نورو ټولو غزاګانو ګښي دنبي كريم ﷺ سره شريک شوی دی ، او دبدر د غزا په مهال دنبي كريم ﷺ په امر باندي دخپلې بوډۍ مور دخدمت لپاره پاتې شوی وو، او دنبي كريم

ﷺ د فات نه روستو بیا دخلفاء راشیدینو په زمانه کښې هم په ډیرو جنګونو کښې شریک شوی دی .

دده نه د احادیثو په کتابونو کښې د نبي کریم ﷺ دوه سوه پنځوس (۲۵۰) احادیث نقل دي .

ابوامامه الباهلي رضي الله عنه په شام کښې اوسیدلو او په کال یو اتیا (۸۱) هجرۍ کښې د حمص په علاقه کښې وفات شوی دی.

ددي حدیث د فوائدو څخه:

1- ظلم په وجه باندي ډیر شرونه پیداکیږي، په ټولنه کې عدل او خیر ختمیږي، او هرکله چې په یوه ټولنه کې ظلم او زیاتی ډیر شي نو په داسي ټولنه باندي د الله پاک عذابونه نازلیږي، ځکه خو د اسلام مبین دین د ظلم او ظالم مخه نیسي.

2- دي حدیث شریف کې د ( قضیب) لفظ راغلی دی قضیب دعربي په لغت کې ( لښتي او دورمي) ته وایي کومه چې د اراک وني نه پري شوي وي.

الصبر عند المصائب

39- عَنْ عَائشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ مُصِيبَةٍ تُصِيبُ الْمُسْلِمَ إِلاَّ كَفَّرَ اللّٰهُ عَنْهُ بِهَا حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا".

صحيح البخاري، رقم الحديث 5640، واللفظ له، وصحيح مسلم، رقم الحديث 50 - (2572)

دازمیښت او امتحان په وخت صبر کول

د نبي کريم ﷺ بي بي عائشه رضي الله عنها نه روايت دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: هيڅ يو مصيبت او سخت حالت مسلمان بنده ته نه رسيږي مګر په هغې سره الله تعالی دهغه ګناهونه معاف کوې اګر که دهغه په خپه کې ازغی لاړ شي.

دراوي پيژندنه: ددي حديث دراوي پيژندنه مخکې شپاړلسم نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:
1- دا حديث مؤمن بنده ته د صبر دعوت ورکوي که هر څومره سخت حالت او ازميښت ورباندي راشي.
2- امتحانات او ازميښتونه او سخت احوال کله په انسان باندي دهغه دګناهونوپه نتيجه کي راځي اوکله ورباندي دهغه درجي وچتيږي او کله د هغه د ګناهونو د معافي زريعه جوړه شي، نو مؤمن بايد په هر وخت د خپل رب په تقدير باندي راضي وي.

الْحَجَرُ الْأَسْوَدُ منَ الجنَّة

40- عَنْ عَبْد اللهِ بْنِ عَبَّاس رَضِي اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: "نَزلَ الْحَجْرُ الْأَسْوَدُ منَ الجنَّة وَهُوَ أشدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبنِ؛ فَسَوَّدَتْهُ خَطَايَا بَنِي أدَمَ".
(جامع الترمذي، رقم الحديث 877، قال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن صحيح، وصححه الألباني)

## حجر اسود جنتي کاڼی دی

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: د حجر اسود کاڼی د جنت نه په داسي حالت کې راښکته شوی چې د پیو ( شیدو) نه د هغه رنګ ډیر سپین وو خو دانسانانودګناهونو دوجې نه تور شوی دی.

ددي حدیث د فوائدو څخه:

1- کله چې ګناهونه په کاڼي کې اثر کولی شي نو په زړونو کې خو ډیر زیات اثر کولی شي.

2- د حجر اسود کاڼی د بیت الله په جنوبي ګوټ ( طرف) کې پروت دی د زمکې نه د یو نیم متر په اندازه وچت دی .

3-حجر اسود چاته نفع او ضرر نشي رسولی خو دهغې خکلول دعبادت په بنیاد نه بلکه دسنت په بنیاد مشروع دي.

## جواز الصيام والإفطار في السفر

41-عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: كُنَّا نُسَافِرُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؛ فَلَمْ يَعِبِ الصَّائِمُ عَلَى الْمُفْطِرِ، وَلاَ الْمُفْطِرُ عَلَى الصَّائِمِ.

(صحيح البخاري، رقم الحديث 1947، واللفظ له، وصحيح مسلم، رقم الحديث 98 - (1118)

### د سفر په حالت کې روژه نیول او نه نیول دواړه جواز لري.

د انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی چې مونږ به دنبي کریم ﷺ سره په سفر تللو او په مونږ کې به ځینو کسان روژه وو، او ځینې نه، خو یو به په بل عیب نه ویلو.

دراوي پیژندنه: ددي حدیث دراوي پیژندنه مخکې دریم نمبر حدیث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- دي حديث نه معلوميږي، چې د سفر په حالت کې روژه نيول او نه نيول دواړه مشروع دي.

2- دي حديث نه د اسلام د مبين دين اساني معلوميږي.

الجماع في الدبر حرام في الإسلام

42- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لاَ يَنْظُرُ اللَّهُ إِلَى رَجُلٍ جَامَعَ امْرَأَتَهُ فِي دُبُرِهَا". (سنن ابن ماجه، رقم الحديث 1923، وصححه الألباني)

په دبر( شاه) کې جماع ( کور والی کول) حرام دی .

د ابو هريره رضي الله عنه نه رواي دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: هغه کس ته به الله پاک د رحمت په نظر نه ګورې کوم چې د خپلې ښځې سره کور والی په شاه کې کوې.

دراوي پيژندنه: ددي حديث دراوي پيژندنه مخکې اول نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- د اسلام مبين دين د ښځې سره د هغې په دبر ( شاه طرف) کې جماع ( کور والی ) حرام ګرځولی دی ځکه چې دا کارد انساني فطرت خلاف او د ډیرو مرضونو او د الله پاک د قهر او غضب سبب ګرځي.

2- دا حديث تقاضا کوې د هغه چانه چې ددي ګناه ښکار شوی وی چې باید سمدست ددي ګناه نه توبه وباسي او بیا ددي ګناه نه ځان وساتي.

3- کله چې جماع ( کور والی) په ( فرج) یعني مخکې کې حصه کې وې نو باک نلري که د مخې نه وې او که د شاه نه، خو جماع په دبر ( شاه ) طرف کې کول حرام دی.

ماذا يفعل المتيمم إذا وجد الماء في الوقت بعد الفراغ من الصلاة

43- عَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: خَرَجَ رَجُلَانِ فِي سَفَرٍ؛ فَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ وَلَيسَ مَعَهُمَا مَاءٌ؛ فَتَيَمَّمَا صَعِيداً طَيِّباً؛ فَصَلَّيَا، ثُمَّ وَجَدَا الْماءَ فِي الْوَقْتِ؛ فَأَعَادَ أَحَدُهُمَا الصَّلَاةَ وَالوُضُوءَ، وَلَمْ يُعِدِ الأَخَرُ، ثُمَّ أَتَيَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؛ فَذَكَرَا ذَلِكَ لَـهُ؛ فَقَالَ لِلَّذِي لَمْ يُعِدْ: "أَصَبْتَ السُّنَّةَ وَأَجْزَأَتْكَ صَلَاتُكَ"، وقَالَ لِلأَخَرِ: "لَكَ الأَجْرُ مَرَّتَيْنِ".

(سنن أبي داود، رقم الحديث 338، واللفظ له، وسنن النسائي، رقم الحديث 433، وصححه الألباني)

كله چې تييم كونكى ته د مانځه كولو نه وروستو اوبه ملاوشي.

د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه نه روايت دى چې دوه كسان په سفر باندي ووتل، د مانځه وخت راغى او د دوي سره اوبه نه وې، دواړو په پاكه خاوره باندي

تیيم وکړو او دواړو مونځ ادا کړو، بیا ورته د همدغي مانځه په وخت اوبه ملاو شوې، نو یو ددي دواړو نه بیرته د مانځه اعاده وکړه، یعني اودس یي وکړ او بیرته یي مونځ راوګرځوو، او هغه بل مونځ بیرته راونه ګرځوو، بیا دواړه نبي کریم ﷺ ته راغلل، او دا قصه یي ورته بیان کړه، نبي کریم هغه کس ته چې مونځ یي بیرته نه وو راګرځولی وویل ته سنت ته رسیدلی یي، او هغه بل کس ته یي وویل ستا دپاره اجر او ثواب دوه ځله دی.

دراوي پیژندنه:ددي حدیث راوي ابو سعید الخدري رضي الله عنه دی ددي نوم سعد بن مالک بن سنان الانصاري رضي الله عنه جلیل القدر او مشهور صحابي دی ، د ډیرو ښو خویونو او علم خاوند وو، د اول ځل لپاره یي د خندق په غزا کښې شریک شوی وو، او همدارنګه د نبي کریم ﷺ سره یي په دولسو (۱۲) غزاګانو کښې شرکت کړی دی

داحاديثو په كتابونو كښې دده نه د نبي كريم ﷺ يو زرو يو سلو او يا (١١٧٠) احاديث نقل دي .

ابو سعيد الخدري رضي الله عنه په كال (٧۴) هجري كښې چه عمر يي شپږ اتيا كاله وو ، په مدينه كښې وفات شو ، او د بقيع په هديره كښې دفن شو .

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- د اسلام مبين دين د اسانۍ او نيک بختي دين دی كله چې يو بنده د سخت وخت سره مخامخ شي نو دهغه د اسانۍ دپاره د رخصت په بنياد د عبادت يوه لاره مقرر شوی وي.

2- دي حديث نه معلوميږي چې كله يو مونځ كونكي ته او به ملاو نشي او دمانځه وخت داخل شي نو بايد چې په پاكه خاوره باندي تييم ووهي،او په خپل وخت مونځ وكړي، او بيرته په هغه باندي دمونځ كول نشته اګر كه اوبه ورته هم ملاوشي.

## فضل العناية بالبنات

44-عَنْ أَنَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ دَخَلْتُ أَنَا وَهُوَ الْجَنَّةَ كَهَاتَيْنِ وَأَشَارَ بِإِصْبَعَيْهِ".

(جامع الترمذي، رقم الحديث 1914، واللفظ له، وصحيح مسلم، رقم الحديث 149 -(2631)، وقال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن غريب، وصححه الألباني)

## د لوريانو پالنه او دهغې فضيلت.

د انس رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: څوک چې دوه لورياني وپالې او تربيت يې وكړي، نو زه او هغه به جنت ته داسي يو ځاې داخل شو، او په دواړو ګوتو يې اشاره وكړه .

دراوي پيژندنه: ددي حديث دراوي پيژندنه مخكې دريم نمبر حديث كې ذكر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- داحديث لارښونه کوي چې لورياني ( جنکۍ) دالله تعالی دخوانه نعمت او پير زوينه ده ځکه خو د دوې سره احسان او ښيګڼه کول او ددوي ښه تربيت کول جنت ته د داخليدو سبب دی.

2- دا حديث د لور يانو ( جنکو) تربيت کول او دهغوې سره احسان کولو ته ترغيب ورکوې.

دعاء دخول المسجد والخروج منه

45- عَنْ أَبِيْ حُمَيْد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: "إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُم المَسْجِدَ؛ فَلْيَقُلْ: اَللَّهُمَّ! افْتَحْ لِيَ أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ، وَإِذَا خَرَجَ، فَلْيَقُلْ: اَللَّهمّ! إِنِّيْ أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ".(صَحيح مسلم، رقم الحديث 68 - (713)

## مسجد ته د داخلیدلو دعا

د ابو حمید رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: کله چې په تاسو کې یو کس مسجد ته داخلیږي نو دا دعا دي ووایي: (اَللَّهُمَّ! افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ) إلهي ستا د رحمت دروازې ماته کولاو(بیرته) کړه.

او چې کله د مسجد نه بهر وځې نو دا دعا دي ووایي: اَللَّهمَّ! إِنِّيْ أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ" الهي زه ستا نه ستا فضل غواړم.

دراوي پیژندنه: ددي حدیث راوي ابو حمید الساعدي رضي الله عنه جلیل القدر صحابي دی، دده د نوم په باره کې ویل شوي چې نوم یي عبد الرحمن بن سعد بن منذر دی، او ځیني تاریخ پوهانو دا ویلي دي: چې دده نوم منذر بن سعد دی ابو حمید رضي الله عنه فقیه او دډیرعلم خاوند وو په شپیتم هجري کال کې

د مديني په ښار کې وفات او ددې فاني دنيا څخه رحلت وکړ.

ددې حديث د فوائدو څخه:

1- مسجد ته دداخليدو په وخت مختلفې دعاګاني راغلې دي، دهغه جمله دعاګانو نه يوه دعا داده کومه چې په دې حديث کې ذکر شوي ده، غوره داده چې مؤمن مسجد ته د داخليدو او همدغه شان د مسجد نه د وتلو په وخت کې : اول په نبي کريم ﷺ باندې درود او سلامٍ ووايېِ بيا د داخليدو په وخت دا دعا ((اَللَّهُمَّ! افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ) إلهي ستا درحمت دروازې ماته کولاو(بېرته) کړه.) ووائي، او دمسجدنه د وتلو په وخت دا دعا (اَللَّهمَّ! إِنِّيْ أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ" الهي زه ستا نه ستا فضل غواړم.) ووائي.

د نور زيات وضاحت دپاره سنن ابي داوود دحديث شميره 465 او جامع ترمذي د حديث شميره 314 او

سنن ابن ماجه د حديث شميره 772 او 773وګورې. امام الباني دي حديثونه ته صحيح حديثونه ويلي دي.

2- مسجد ته د داخليدو په وخت د الله پاک نه د هغه د رحمت غو ښتل، او د مسجد نه بهر وتلو وخت کې د هغه فضل غوښتل په دي کې حکمت دا ښکاري چې کله څوک مسجد ته داخل شي، نو د الله پاک په عبادت او بندګې کې مشغوله شي نو ددي سره د رحمت ذکر کول مناسب دي، او چې کله څوک د مسجد نه بهر ووځې نو د حلال رزق په طلب کولو مشغوله شي نو ددي سره د فضل ذکر کول مناسب دي، الله پاک ښه پوهيږي.

## الصلاة والسلام علَى النَّبيَ عند الدخول في المسجد والخروج منه

46- عَنْ فَاطمَةَ رَضيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيه وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ المَسْجِدَ صَلَّى عَلَى مُحَمَّد وَسَلَّمَ، وَقَالَ: "رَبِّ اغْفر لِي ذُنُوبِي، وَافْتَح لِي أَبْوَابَ رَحْمَتكَ"، وَإِذَا خَرَجَ صَلَّى عَلَى مُحَمَّد وَسَلَّمَ، وَقَالَ: "رَبِّ اغْفِر لِي ذُنُوبِي، وَافْتَح لِي أَبْوَابَ فَضْلكَ".

(جامع الترمذي، رقمَ الحديث 314، واللفظ له، وسنن ابن ماجه، رقم الحديث 771، وقال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن، وصححه الألباني)

مسجد ته د داخليدو او د مسجد نه بهر وتلو په وخت كې په نبي كريم ﷺ باندي درود او سلام ويل مشروع دي:

فاطمه رضي الله عنها نه روايت دى چې كله به نبي كريم ﷺ مسجد ته دا خليدلو نو په محمد عليه السلام (په خپل ځان) به يې درود او سلاو ووايو، او بيا به يې دا

دعا وويله: (رَبِّ اغْفِرْ لِيْ ذُنُوبِيْ، وَافْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ")
پرور دګاره ماته زماَ د ګناهونو ښښنه وکړې، او ماتهَ ستا
د رحمتونو دروازې کلاو( بيرته) کړې.
او چې کله به د مسجد نه بهر وتلو نو په محمد عليه
السلام (په خپل ځان) به يې درود او سلام ووايو، او بيا
به يې دا دعا وويله:( رَبِّ اغْفِرْ لِيْ ذُنُوبِيْ، وَافْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ
فَضْلِكَ".)
پرور دګاره ماته زما د ګناهونو ښښنه وکړې، او ماته ستا
د فضل دروازې کلاو( بيرته) کړې.
دراوي پيژندنه : ددي حديث راوي فاطمه رضي الله عنها
چې دجناب نبي کريم ﷺ په لوريانو کې د ټولو نه کشره
لور ده، د نبي کريم ﷺ د بعثت نه مخکې پيدا شوی ده
ددي تربيت د نبوت په کور کې په ډيرو وچتو اخلاقو
سره شوی دی، دعبادت، صبر، او شکر سر بيره د ډيرو
مناقبو او فضيلتونو خاونده ده، دي باره کې نبي کريم
ﷺ فرمايلي دي:

" إِنَّ هَذَا مَلَكٌ لَمْ يَنْزِلِ الأَرْضَ قَطٌّ قَبْلَ هَذِهِ اللَّيْلَةِ، اسْتَأْذَنَ رَبَّهُ أَنْ يُسَلِّمَ عَلَيَّ، وَيُبَشِّرَنِي بِأَنَّ فَاطِمَةَ سَيِّدَةُ نِسَاءِ أَهْلِ الجَنَّةِ، وَأَنَّ الحَسَنَ وَالحُسَيْنَ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الجَنَّةِ". (جامع الترمذي، رقم الحديث 3781، قال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن غريب، وصححه الألباني)

بیشکه یو ملائک چې کله هم زمکې ته ددې شپې نه مخکې نه دی راغلی، د خپل رب نه یې اجازه وغو ښتله چې زما سلام وکړي او ماته زیری راکړي چې فاطمه رضي الله عنها د جنت د ښځو سرداره ده، او حسن او حسين د جنت د ځوانانو سرداران دي.

نبي کریم ﷺ فاطمه رضي الله عنها د خپل تره ځوي علي رضي الله عنه ته په ونکاح ورکړې وه، او د واده په وخت د فاطمي رضي الله عنها عمر پنځلس کاله پنځه میاشتي وو.

نبي کريم ﷺ به د فاطمي رضي الله عنها سره ډيره مينه کوله او دهغې به يي ډير احترام کولو.

فاطمه رضي الله عنها د نبي کريم ﷺ د وفات نه شپږ مياشتي رو روستو په يولسم کال دهجرت د رمضان د مياشتي په دريم تاريخ باندي په مدينه کې وفات شوه او د بقيع په هديره کې د شپي دفن شوه.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- په دي حديث کې مسجد ته د داخليدلو دعا ذکر ده او ددي دعا نه مخکې بايد په نبي کريم ﷺ باندي درود او سلام وويل شي.

په نبي کريم ﷺ باندي درود او سلام او دهغې صحيح طريقه:

أ -"اَللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّد وَعَلَى آل مُحَمَّد، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آل إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اَللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّد وَعَلَى آل مُحَمَّد، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ ".

(صحيح البخاري، رقم الحديث 3370، واللفظ له، وصحيح مسلم، رقم الحديث 66- (406))
الهي په محمد صلى الله عليه وسلم اوپه آل د محمد صلى الله عليه وسلم رحمتونه را ولیږه لكه څنګه چه دې په ابراهيم عليه السلام او دهغي په آل رحمتونه را لیږلي وو په رښتيا سره ته ستا یلی شوی اود لويي خاوند يي الهي په محمد صلى الله عليه وسلم او په آل د محمد صلى الله عليه سلم باندي بركتونه راوليږه لكه څنګه چه دي په ابراهيم عليه السلام او دهغه په آل با ندي بركتونه رالیږلي وو په رښتيا سره ته ستا یلی شوی اود لو يی خاوند ئي .
ب -"اَللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّد عَبْدِكَ وَرَسُوْلِكَ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيْمَ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيْمَ وَآلِ إِبْرَاهِيْمَ " (صحيح البخاري، رقم الحديث 6358)

الهي په محمد صلی الله علیه وسلم چې ستا بنده او رسول دی رحمتونه را وليږه لکه څنګه چه دې په ابراهیم علیه السلام رحمتونه را لیږلي وو،الهي په محمد صلی الله علیه وسلم چې ستا بنده او رسول دی برکتونه راوليږه لکه څنګه چه دي په ابراهيم علیه السلام او دهغه په آل با ندي برکتونه رالیږلي وو.

ب -"اَللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُولِكَ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَآلِ إِبْرَاهِيمَ "، (صحيح البخاري، رقم الحديث 6358).

الهي په محمد صلی الله علیه وسلم چې ستا بنده او رسول دی رحمتونه را وليږه لکه څنګه چه دې په ابراهیم علیه السلام رحمتونه را لیږلي وو،الهي په محمد صلی الله علیه وسلم چې ستا بنده او رسول دی او دهغه په آل برکتونه راوليږه لکه څنګه چه دي په

ابراهيم عليه السلام او دهغه په آل با ندي برکتونه راليږلي وو.

ج - اَللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَتِهِ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَتِهِ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ؛ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ".

(صحيح البخاري، رقم الحديث 3369، واللفظ له، وصحيح مسلم، رقم الحديث 69 - (407)،)

الهي په محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه په بي بيانو او بچو باندي رحمتونه را وليږه لکه څنګه چه دې د ابراهيم عليه السلام په آل رحمتونه را ليږلي وو،الهي په محمد صلی الله علیه وسلم چې ستا بنده او رسول دی او دهغه په آل برکتونه راوليږه لکه څنګه چه دي په ابراهيم عليه السلام او دهغه په آل باندي برکتونه راليږلي وو په رښتيا سره ته ستا يلی شوی اود لو يی خاوند ئي .

د- اَللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ".

(سنن النسائي، رقم الحديث 1292، وصححه الألباني).
الهي په محمد صلى الله عليه وسلم اوپه آل د محمد صلى الله عليه وسلم رحمتونه را ولیږه.

## من أداب دخول المسجد

47-عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ أَكَلَ الْبَصَلَ وَالثُّوْمَ وَالْكُرَّاثَ؛ فَلاَ يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا؛ فَإِنَّ الْمَلائِكَةَ تَتَأَذَّى مِمَّا يَتَأَذَّى مِنْهُ بَنُو أَدَمَ".
(صحيح مسلم، رقم الحديث 74 - (564)، واللفظ له، وصحيح البخاري، رقم الحديث 854 ،)

## مسجد ته د داخليدلو اداب

د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما نه روايت دی چې نبي كريم ﷺ فرمايلي: چاچې پياز، اوږه، او ګندنه، وخوړه، نو زمونږ مسجد ته دې نیږدي نه راځي ځکه چې ملائکوته دهغه بدبو وغيره نه تكليف رسيږي، كوم نه چې انسانانو ته تكليف رسيږي.

دراوي پيژندنه: ددي حديث دراوي پيژندنه مخکې دوويشتم نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- هغه څوک چې پياز، اوږه، وغيره وخوري نو بايد ده چې د مسجد ته د تللو نه ځان وساتي ترڅو مونځ کونکو ته د بدبو د وجې نه تکليف ورنکړي، همدغه شان په مسجدونو کې ملائکې هم وي او دبد بو د وجې نه هغوې ته تکليف رسيږي.

2- د بد بو سره مسجد ته داخليدل جائز نه دي لکه د سګريټ بدبو يا هغه بد بو کوم چې د بدن يا جامو وغيره راوځې نو مونځ کونکی بايد دخپل ځان او لباس وغيره پوره خيال وساتي ترڅو په مسجد کې نورو مونځ کونکو ته تکليف ورنکړي.

3- دا حديث شريف لارښونه کوي، چې مؤمن بنده بايد مسجد ته د تللو د پاره پوره تياری وکړي خپل ځان پاک کړي خوشبو وغيره ولګوي، او ښائسته جامي واچوي، بيا

مسجد ته لاړ شي ترڅو نورو مونځ کونکو ته تکليف ورنکړي.

لا يجوز إنشاد الضالة في المساجد

48- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ سَمِعَ رَجُلاً يَنْشُدُ ضَالَّةً فِي الْمَسْجِدِ؛ فَلْيَقُلْ: لاَ رَدَّهَا اللَّهُ عَلَيْكَ؛ فَإِنَّ الْمَسَاجِدَ لَمْ تُبْنَ لِهَذَا".

(صحيح مسلم، رقم الحديث 79 -(568)

په مسجد کې د ورک شوي څيز اعلان کول جواز نلري

دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: څوک چې واوري ديو کس نه چې په مسجد کې د ورک شوي څيز دپاره اعلان کوې نو هغه ته دې ووايي: چې ستا دا ورک شوی څيز دي الله تعالی تاته بيرته در نه کړي، ځکه چې مسجدونه خو د ورک شوي څيزونو د اعلان د پاره جوړ شوي نه دي.

دراوي پیژندنه: ددي حدیث دراوي پیژندنه مخکې اول نمبر حدیث کې ذکر شوي ده.
ددي حدیث د فوائدو څخه:
1- مسجدونه په مخ د زمکې الله تعالی ته خوښ ځایونه دي، ځکه خو ډیر لوی منزلت او احترام لري او ددي مسجدونو احترام او تعظیم کول واجب دي.
2- په مسجدونو کې د ورک شوي شیانو دپاره اعلان کول جواز نلري ځکه چې مسجدونه ددي دپاره نه دي جوړ شوي بلکه مسجدونه ددي دپاره جوړ شوي دي چې په کې دالله تعالی عبادت او بندګی ، د قران تلاوت د الله تعالی ذکر وغیره وکړی شي، خو د مسجد په بهرني دیوالونو پوري داسي پاڼي لګول چې په هغې باندي د یو ورک شوي څیز اعلان لیکل شوی وي باک نلري.

## دعاء القنوت في صلاة الوتر

49- عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِي رَضِي اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: عَلَّمَنِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلِمَاتٍ أَقُوْلُهُنَّ فِي قُنُوتِ الْوِتْرِ: "اَللَّهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ، وَعَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ، وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ، وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ، وَقِنِي شَرَّمَا قَضَيْتَ؛ إِنَّكَ تَقْضِي وَلاَ يُقْضَى عَلَيْكَ، وَإِنَّهُ لاَ يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ، وَلاَ يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ، تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ".

(سنن أبي داود، رقم الحديث 1425، واللفظ له، وجامع الترمذي، رقم الحديث 464، وسنن النسائي، رقم الحديث 1745، وسنن ابن ماجه، رقم الحديث 1178، قال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن، وصححه الألباني).

## د وتر په مانځه کې دعا قنوت ويل

دحسن بن علي رضي الله عنهما نه روايت دی چې نبي کريم ﷺ ماته يو څو کلمات ښودلي دي چې زه هغه د وترو په مانځه کې لولم: اَللَّهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ، وَعَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ، وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ، وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ، وَقِنِي شَرَّمَا قَضَيْتَ؛ إِنَّكَ تَقْضِي وَلَا يُقْضَى عَلَيْكَ، وَإِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ، وَلَا يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ، تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ".

ای پر ور دګاره! ماته هدايت وکړې او داخل مي کړې په هغه چا کې چې تا ورته هدايت کړی دی، او ماته عافيت راکړې داخل مي کړې په هغه چا کې چې تا هغوې ته عافيت ورکړی دی، او ته زما مدد وکړې او داخل مي کړې په هغه چا کې چې تا د هغوې مدد کړی دی، او برکت واچوې په هغه څه کې کوم چې تا راکړې دي، او ستا د شر فيصلې نه مي محفوظ وساتې، بيشکه ته فيصله کونکې او ستا په خلاف هيڅوک فيصله

نشي کولی، او بیشکه هغه څوک نه ذلیله کیږي دچا چې ته مدد ګار شي، او بیشکه هغه څوک نشي عزتمند کیدلی څوک چې ته ذلیله کړې، برکتناک او لوې ذات یي ای زمونږ پر وردګاره!

دراوي پیژندنه: ددي حدیث راوي حسن بن علي رضي الله عنهما د نبي کریم ﷺ لمسی او دفاطمي رضي الله عنها زوې دی، حسن رضي الله عنه د هجرت په دریم کال د رمضان په میاشت کې پیدا شو نبي کریم ﷺ یي تحنیک په خپلو لاړو سره وکړاو د حسن نوم یي ورته غوره کړ.

( تحنیک) دیته وایي چې دماشوم په تالو پوري جویل شوي کجوره ولګوې.

د حسن رضي الله عنه نه د حدیثو په کتابونو کې دیارلس حدیثونه نفل دي.

حسن رضي الله عنه عقلمند او دډیر صبر خاوند وو، او د مسلمانانو د وینو په حفاظت کې ډیر حرصناک وو، او

ددي ښکاره دليل دادی چې ده دمسلمانانو داتفاق او اتحاد دپاره د خپل خلافت نه تير شو او د معاويه رضي الله عنه سره يې بيعت وکړ.

د حسن رضي الله عنه ډير زيات مناقب او فضائل دي ترډي چې دده په باره کې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي:

الحَسَنُ وَالحُسَيْنُ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الجَنَّةِ".

(جامع الترمذي، رقم الحديث 3768، قَال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن صحيح، وصححه الألباني).

حسن او حسين رضي الله عنهما د جنت د ځوانانو سرداران دي.

حسن رضي الله عنه د اوه څلويښتو کالو په عمر په کال نهه څلويښت يا پنځوس هجري کې وفات شو او د بقيع په هديره کې د خپلې مور فاطمې رضي الله عنه په څنګ کې دفن کړی شو!

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- دعا قنوت د نبي كريم ﷺ نه په وترو كې په صحيح حديث سره نده ثابت خو دومره ده چې دا دعا يي حسن رضي الله عنه ته ښودلي ده نو كله كله يي په وترو كې ويل مشروع دي.

2- دعا قنوت به د وترو په اخيرني ركعت كې ويل كيږي د ركوع نه بعد او دركوع نه مخكې ويل يي هم مشروع دي.

او دعا قنوت داده: اَللَّهُمَّ اهْدِنِيْ فِيمَنْ هَدَيْتَ، وَعَافِنِيْ فِيْمَنْ عَافَيْتَ، وَتَوَلَّنِي فِيْمَنْ تَوَلَّيتَ، وَبَارِكْ لِي فِيْمَا أَعْطَيْتَ، وَقِنِي شَرَّمَا قَضَيتَ؛ إِنَّكَ تَقْضِي وَلاَ يُقْضَى عَلَيْكَ، وَإِنَّهُ لاَ يَذِلُّ مَنْ وَالَيتَ، وَلاَ يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ، تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيتَ".

اى پر ور دګاره! ماته هدايت وكړې او داخل مي كړې په هغه چا كې چې تا ورته هدايت كړى دى، او ماته عافيت راكړې داخل مي كړې په هغه چا كې چې تا

هغوې ته عافیت ورکړی دی، او ته زما مدد وکړې او داخل مي کړې په هغه چا کې چې تا د هغوې مدد کړی دی، او برکت واچوې په هغه څه کې کوم چې تا راکړې دي، او ستا د سر فیصلې نه مي محفوظ وساتي، بیشکه ته فیصله کونکې او ستا په خلاف هیڅوک فیصله نشي کولی، او بیشکه هغه څوک نه ذلیله کیږې د چا چې ته مدد ګار شي، او بیشکه هغه څوک نشي عزتمند کیدلی څوک چې ته ذلیله کړې، برکتناک او لوې ذات یې ای زمونږ پر وردګاره!

حكم قضاء صلاة الوتر

50- عَنْ أَبِيْ سَعِيْد اَلْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: "مَنْ نَامَ عَنِ الْوِتْرِ أَوْ نَسِيَهُ؛ فَلْيُصَلِّ إِذَا ذَكَرَ وَإِذَاَ اسْتَيْقَظَ".

(جَامع الترمذي، رقم الحديث 465، واللفظ له، وسنن أبي داود، رقم الحديث 1431، وسنن ابن ماجه، رقم الحديث 1188، وصححه الألباني).

## د وتر مانځه قضائي راوړلو حکم

د ابو سعید الخدري رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: د چانه چې وترو مونځ فوت شي دخوب یا نسیان ( هیرول) د وجې نه نو بیا چې کله ورت یاد شي، او یا راویښ شي د خوب نه نو وتر دي وکړي.

دراوي پیژندنه: ددي حدیث دراوي پیژندنه مخکې دري ځلو یښتم نمبر حدیث کې ذکر شوي ده.

ددي حدیث د فوائدو ځخه:

1- دا حدیث شریف دا تقاضا او غو ښتنه کوي، که د چانه وتر د خوب یا نسیان دو جې نه فوت شي، نو چې کله ورته یاد شي دهغې قضائي دي راوړي هر وخت چې وي لکه څنګه چې نبي کریم ﷺ په یو بل حدیث کې فرمایلي دي: "مَنْ نَسِيَ صَلاَةً أَوْ نَامَ عَنْهَا؛ فَكَفَّارَتُهَا أَنْ يُصَلِّيَهَا إِذَا ذَكَرَهَا"، (صحیح مسلم، رقم الحدیث 315 - (684)

د چا نه چې مونځ د خوب یا نسیان د وجې نه فوت شي نو دهغې کفاره داده چې کله ورته رایاد شي نو دهغې قضائي دي راوړي.

د ځیني علماو رائي داده: چې کله د چا نه وتر د یو عذر د وجې فوت شي نو دهغې قضائي به د ورځې د ضحی ( څاښت) په وخت کې راوړي او چفت به یي کوي، دوي په دلیل کې حدیث د عاشي رضي الله عنها راوړي:

وَكَانَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى صَلاَةً أَحَبَّ أَنْ يُدَاوِمَ عَلَيْهَا، وَكَانَ إِذَا غَلَبَهُ نَوْمٌ أَوْ وَجَعٌ عَنْ قِيَامِ اللَّيْلِ صَلَّى مِنْ النَّهَارِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً، (صحيح مسلم، رقم الحديث 139 -(746)

کله چې به نبي کریم ﷺ یو مونځ شروع کړ نو په هغې به یي همیش والی کوو، خو چې کله به تري دخوب یا بیماري دوجې نه فوت شو، نو د ورځې به یي دولس رکعته مونځ وکړ، خو په دي کې غوره قول اول دی .

# من أحكام صلاة الوتر

51- عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ خَافَ أَنْ لاَ يَقُوْمَ مِنْ أخرِ اللَّيْلِ؛ فَلْيُوتِرْ أَوَّلَهُ، وَمَنْ طَمِعَ أَنْ يَقُوْمَ أخرَهُ؛ فَلْيُوتِرْ أخِرَ اللَّيْلِ؛ فَإِنَّ صَلاَةَ أخِرِ اللَّيْلِ مَشْهُوْدَةٌ، وَذَلِكَ أَفْضَلُ".
(صحيح مسلم، رقم الحديث 162 -(755)

## د وترو مونځ او دهغې ځيني أحكام

د جابر رضي الله عنه نه روايت دى چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: هغه څوک چې انديښمن وي چې د شپې په اخره حصه كې به را ولاړ نشي ، نو هغه دې وتر د شپې په اوله برخه كې وكړي.

دراوي پيژندنه: ددي حديث دراوي پيژندنه مخكې دوويشتم نمبر حديث كې ذكر شوي ده .

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- په دي حديث شريف كې ښكاره دليل دى چې وتر د شپې اخري حصي ته روستو كول غوره دي، د هغه چا

دپاره چې هغه باوري وي چې د شپې په اخره برخه کې راپاڅيږي، او هغه څوک چې په خپل ځان باور نلري چې د شپې په اخره حصه کې به راپاڅيږي، نو دهغه دپاره غوره داده چې وتر د شپې په اوله حصه کې وکړي.

2- د ماخو ستن د فرض مانځه نه وروستو د وترو وخت شروع کيږي تر د سبا راختلو پورې لکه څنګه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: أَوْتِرُوا قَبْلَ أَنْ تُصْبِحُوا"، (صحيح مسلم، رقم الحديث 160 -(754) دسبا نه مخکې وتر وکړي.

التحذير مِنَ الْمُجَاهَرَةِ بالمعصية

52- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى إِلَّا الْمُجَاهِرِينَ، وَإِنَّ مِنَ الْمُجَاهَرَةِ أَنْ يَعْمَلَ الرَّجُلُ بِاللَّيْلِ عَمَلاً، ثُمَّ يُصْبِحَ وَقَدْ سَتَرَهُ اللَّهُ؛ فَيَقُولَ: يَا فُلاَنُ، عَمِلْتُ

الْبَارِحَةَ كَذَا وَكَذَا، وَقَدْ بَاتَ يَسْتُرُهُ رَبُّهُ، وَيُصْبِحُ يَكْشِفُ سِتْرَ اللَّهِ عَنْهُ ".

(صحيح البخاري، رقم الحديث 6069، واللفظ له، وصحيح مسلم، رقم الحديث 52 - (2990)

په ښکاره سره په زړورتيا ګناه کول او دهغې وعيد ( ويره)

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، چې ما د نبي کريم ﷺ نه اوريدلي دي هغه فرمايل: زما هر امتي ته به معافي وکړی شي مګر ښکاره په زړورتيا سره ګناه کونکي ته به معافي نه کيږې، او داهم په ښکاره ګناه کې داخليږې، چې يو څوک دشپې دګناه کار وکړې، بيا سهار شي او الله تعالی ورباندي پرده اچولي وي، خو دا بيا وايي فلانکيه بيګا د شپې مي داسي او داسي کار وکړ، يقينا د شپې ورباندي دهغه پر وردګار پرده اچولي وه، خو چې شهار شو ده هغه پرده دخپل ځانه لري کړه.

دراوي پیژندنه: ددي حدیث دراوي پیژندنه مخکې اول نمبر حدیث کې ذکر شوي ده .

ددي حدیث د فوائدو څخه:

1- دا حدیث لار ښونه کوې چې مؤمن بنده باید د خپل ځانه هغه پرده اوچته نکړې کومه چې په ده باندي دده رب اچولې ده بلکه دی باید دخپل رب حمد او شکر اداکړې او هغه ته توبه او رجوع وکړې او ګناه سمدست پریږدي، ځکه الله تبارک وتعالی هغه بنده ته معافي کوې څوک چې دګناه نه توبه وباسي.

2- د مؤمن بنده چې کومه ګناه شوي وې پکارده چې د هغې اعتراف ونکړې د بادشاه وغیره په وړاندي بلکه بهتره داده چې په خپل ځان پرده واچوې او په رشتیا سره د دغه ګناه نه توبه وباسي.

Download From; Aghalibrary.com

## حق الأم في البر أعظم

53-عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؛ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ صَحَابَتِي؟ قَالَ: "أُمُّكَ" قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: "ثُمَّ أُمُّكَ"، قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: "ثُمَّ أُمُّكَ"، قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: "ثُمَّ أَبُوكَ".

(صحيح البخاري، رقم الحديث 5971، وأيضاً صحيح مسلم، رقم الحديث 1 - (2548)

په نیکۍکې د مور حق زیات دی .

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې یو کس نبي کريم ﷺ ته راغی او تپوس یې وکړ چې ای دالله پیغمبره زه ښه ملګرتیا او احسان د چاسره وکړم نبي کريم ﷺ وفرمایل: د خپلې مور سره، تپوس کونکي ویل بیا د چاسره نبي کريمﷺ وفرمایل: دخپلې مور سره تپوس کونکي ویل بې دچاسره نبي کريمﷺوفرمایل: دخپلې

Download From; Aghalibrary.com

مور سره تپوس کونکي ویل بیا د چاسره نبي کریمﷺ وفرمایل: دخپل پلار سره.

دراوي پيژندنه: ددي حدیث دراوي پيژندنه مخکښ اول نمبر حدیث کښ ذکر شوي ده .

ددي حدیث د فوائدو څخه:

1- په بچي باندي د مور حق ډیر زیات دی او ددي وجه او سبب دادی چې موردخپل بچې دپاره ډیر تکلیفونه او زحمتونه په خپل ځان تیروي، نهه میاشتي یي په خپله خیټه ګرځوي، هغه تکلیف بیا د پیدایښت تکلیف، بیا دوه کاله تی ( دخپلې سیني پي) ورکوي، بیا د هغې تربیت او پالنه کوي، بیا په هغه باندي ډیره زیاته مهربانه وي، نو ځکه خو مور په خپل بچې باندي ډیر زیات حق لري، اګر که مور په شرک او کفر کې مبتلا هم وي بیا هم په بچې باندي حق لري چې د هغې خدمت وکړي او دهغې سره احسان وکړي.

Download From; Aghalibrary.com

## عُقُوقُ الوالد من كبائر الذنوب

54- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قالَ: "رِضَا الربِّ فِي رِضَا الْوَالِدِ، وَسَخَطُ الربِّ فِي سَخَطِ الْوَالِد".

(جامع الترمذي، رقم الحديث 1899، صححه الألباني).

دپلار نافرماني كول لويه ګناه ده.

د عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دی نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: د پلار رضا او خوشحالي د الله پاک د رضا او خو شحالۍ سبب دی، او د پلار خفګان د الله پاک د خفګان او غو سي سبب دی.

دراوي پيژندنه: ددي حديث دراوي پيژندنه مخکې وه ديرشم نمبر حديث کې ذکر شوي ده .

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- دا حديث بچو ته لارښونه کوې چې د خپل پلار خبره ومني او دهغه احترام او عزت وکړې، ځکه چې د پلار

*Download From; Aghalibrary.com*

خوشحاله کول دالله پاک دخوشحالۍ سبب دی او د پلار خفه کول د الله پاک د خفګان او غو سې سبب دی

2- دا حدیث دلالت کوي چې د مور او پلار نافرماني کول لویه ګناه ده.

الحث على الكسب الحلال الطيب

55- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لأَنْ يَحْتَزِمَ أَحَدُكُمْ حُزْمَةً مِنْ حَطَبٍ؛ فَيَحْمِلَهَا عَلَى ظَهْرِهِ؛ فَيَبِيعَهَا؛ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ رَجُلاً يُعْطِيهِ أَوْ يَمْنَعُهُ".

(صحيح مسلم، رقم الحديث 107 - (1042)، واللفظ له، وصحيح البخاري، رقم الحديث 2074).

حلال رزق طلب کولو ته ترغیب

د ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: بیشکه که یو کس په تاسو کې د لرګو یو ګیډی په خپله شاه باندي بارکړې او خرچ یې کړې دا دهغه دپاره ډیر غوره دی ددینه چې

Download From; Aghalibrary.com

د بل چا نه سؤال وکړې او هغه به يا څه ورکړې او يا نه.

د راوي پيژندنه:

ددي حديث د راوي پيژندنه مخکې په اول نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- د اسلام مبين دين چې څنګه د اخرت د تيارۍ دپاره نيکو عملونه ته انسان هڅه وې همدغه شان يي په دنيا کې د ژوند تيرولو دپاره حلال کارو کسب ته هم هڅه وې.

2- هرهغه څوک چې د حلال کار و کسب دپاره محنت او کوشش کوې عزتمند وې.

3- د اسلام په مبين دين سستې او کار کسب نه کول په انسان کې د عيب او نقصان صفت ګرځولی دی.

Download From; Aghalibrary.com

## وجوب إكرام اللحية وإعفائها

56- عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَحْفُوا الشَّوَارِبَ وَأَعْفُوا اللِّحَى".

(صحيح مسلم، رقم الحديث 52- (259)، واللفظ له، وصحيح البخاري، رقم الحديث 5893،).

## د ګيري پريښودل واجب دي.

د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: بريتونه كم كړې او ګيرې معاف ( اوږدې پريږدئ)

د راوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخکې په يولسم نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- داحديث شريف تقاضا اوغوښتنه کوې چې دګيري پريښودل واجب دي، نو د ګيري ويستل، خرول، کمول جواز نلري.

2- هغه ویښته چې د لاندي شونډي نه لاندي راختلي وي هغه هم په ګیره کې شامل دي.
3- دا حدیث دلالت کوي چې د بریتونو کمول مشروع دي نو د مسلمان دپاره د بریتونو اوږده پریښودل جواز نلري بلکه د بریتونو کمول مشروع دي.

أهمية احتساب الأجر في النفقة

57- عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاص رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِي بِهَا وَجْهَ اللَّهِ إِلاَّ أُجِرْتَ عَلَيْهَا، حَتَّى مَا تَجْعَلُ فِي فَمِ امْرَأَتِكَ". (صحيح البخاري، رقم الحديث 56، واللفظ له، وصحيح مسلم، جزء من رقم الحديث 5 - (1628)

خرچه کولو کې د اجر نیت کولو اهمیت.

د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: بیشکه ته یوه صدقه نه کوي چې په هغې سره د الله پاک رضا خواړې مګر تاته په هغې اجر ملاویږي، تردي هغه

نورې چې ته يي دخپلې بي بي په خوله کې بړدې په هغې هم تاته اجر او ثواب ملاويږي.

د راوي پيژندنه:

ددي حديث د راوي پيژندنه مخکې په پنځم نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- دي حديث شريف نه معلوميږي چې اجر او ثواب بنده ته په نيک عمل کولو سره هغه وخت ملاويږي چې کله داجر او ثواب نيت په کې وکړې.

2- دي حديث شريف نه معلوميږي چې د اسلام په مبين دين کې د عبادت مفهوم خورا ډير پراخه دی ځکه هغه کارونه چې د انسان دپاره مباح وې په هغې سره هم انسان ته اجر او ثواب ملاويږي کله چې د اجر او ثواب نيت او ارداده ولري.

3- د خپلې بي بي سره داجر په نيت مزاح کولو باندي هم اجر او ثواب ملاويږي.

# أحكام الإحداد

58- عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لاَ يَحِلُّ لامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَاليَوْمِ الأَخِرِ، أَنْ تُحِدَّ فَوْقَ ثَلاَثٍ إِلاَّ عَلَى زَوْجٍ؛ فَإِنَّهَا لاَ تَكْتَحِلُ وَلاَ تَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا، إِلاَّ ثَوْبَ عَصْبٍ".

(صحيح البخاري، رقم الحديث 5342).

## د غمرازۍ مسائل

د ام عطيه رضي الله عنها نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د هغه ښځې دپاره چې په الله پاک او ورځ د اخرت باندي ايمان لري، جائز نه دي چې د دري ورځو نه زيات د غم او خفګان اظهار وکړي مګر په خاوند باندي ددري ورځو نه زيات د خفګان اظهار کولی شي، پس سترګې به نه توروي او دېول او سنګار جامي به نه اغوندي، بلکه ساده جامي به اغوندي.

د راوي پيژندنه: ددي حديث روايت نسيبه بنت الحارث أنصاريه رضي الله عنها کوي، ددي اسم کنيه أم عطيه دی، ددي دنوم په باره کې ويل شوي چې نسيبه بنت حارث دی، او چا دا هم ويلي چې ددي نوم نسيبه بنت کعب دی، دا يوه ډيره عابده مؤمنه صحابيه ده، دا دنبي کريم صلی الله عليه وسلم سره په اوه غزاګانو کې شريکه شوي ده، دي به په جهادونو کې د زخميانو علاج کولو او د مجاهدينو دپاره به يي د اوبو وغيره انتظام هم کولو، او شهيدان به يي مديني ته انتقالول لکه څنګه چې دا خپله واقعه روايت کوې فرمائي:

غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ، أَخْلُفُهُمْ فِي رِحَالِهِمْ؛ فَأَصْنَعُ لَهُمُ الطَّعَامَ، وَأُدَاوِي الْجَرْحَى، وَأَقُوْمُ عَلَى الْمَرضَى.

(صحيح مسلم، رقم الحديث 142 - (1812)

زه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره اوه غزاګانو ته تللي يم: زه به د مجاهدينو په پړاو کې پاتي شوم او

دهغوې دپاره مي د خوراک څښاک وغيره انتظام کولو او دزخميانو علاج به مي کولو، او د مريضانو خدمت به مي کولو.

ددي سربيره د ډير علم او پوهي خاونده وه، د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د فات نه وروستو په اخر عمر کې بصرې ته لاړه او هلته ددي دعلم او پوهي نه عامو خلکو فائده واخسته، ددينه د حديث په کتابونو کې څلويښت حديثونه نقل دي.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- مراد دغمرازۍ نه هغه داده: هغه ښځه چې خاوند يي وفات شوی وې، نو هغه به د ډول سينګار نه ډډه کوې، د ښائست او زينت جامي وغيره به نه اغوندي سترګې به نه توروې عطرخوشبو وغيره به نه استعمالوې بلکه عامي ساده جامي به اغوندي ترڅو چې عدت يي ختم شي.

2- په ښځه باندي واجب دي د خپل خاوند په مرګ باندي څلور میاشتې او لس ورځې غمرازي وکړې، مګر هغه ښځه چې د هغې په خیټه ماشوم وي هغه به د ماشوم د پیدا کیدلو پورې غمرازي کوې، ځکه چې دهغې عدت ( شمیر دورځو) د ماشوم په پیدا کیدو سره ختمیږې، برابره خبره ده که مطلقه ( طلاقه شوي ) ښځه وې او که خاوند یي وفات شوی وې، نو چې کله وضع د حمل دهغې (ماشوم پیداشو) نوعدت ( شمیر دورځو) یي ختمیږې.

3- همدغه شان ښځه به د خپل خاوند په وفات باندي څلور میاشتي او لس ورځې غمرازي کوې، برابره خبره ده که دې خاوند ورسره همبستري کړې وې اوکه نه خو چې نکاح شوي وې.

4- د خاوند نه پرته په بل چا باندي غمرازې کول جائز دي خو واجب نه دي او د هغې د غمراژي یواځې دري ورځې دي ددي نه زیاته غمرازي جواز نلري.

5- او چې کله ښځه وفات شي نو د هغې په خاوند باندي غمرازي نشته.

الإسلام دين الرحمة

59- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "عُذِّبَت امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ رَبَطَتْهَا، حَتَّى مَاتَتْ؛ فَدَخَلَتْ فيهَا النَّارَ، لَاَ هِيَ أَطعَمَتْهَاَ وَسَقَتْهَا؛ إِذْ حَبَسَتْهَا، وَلاَ هِيَ تَرَكَتْهَا؛ تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الأَرْضِ".

(صحيح البخاري، رقم الحديث 3482،واللفظ له، وصحيح مسلم، جزء من رقم الحديث 151 - (2242)

د اسلام مبين دين د رحمت دين دی

د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: يوې ښځې ته د پيشو د وجې نه عذاب ورکړی شو ، چې دي هغه پيشو تړلي وه، او هغې ته يي نه خوراک ورکولو، او نه يي ورته اوبه ورکولې، او نه يي پريښودله چې د زمکې

نه څه خوراک وکړي تردي چې مړه شوه، نو داښځه ددي په وجه جهنم ته لاړه!

د راوي پیژندنه: ددي حدیث د راوي پیژندنه مخکې په یولسم نمبر حدیث کې ذکر شوي ده.

ددي حدیث د فوائدو څخه:

1-دیو حیوان داسي تړل چې هغې ته خوراک څښاک وغیره نه ورکول د سخت زړي او بد اخلاقه انسان علامه ده.

2- داحدیث شریف د هغه د چا دګناه لوې والی بیانه وي څوک چې حیواناتو ته عذابونه ورکوې، هغه وهي یا یي وژني د سبب پرته، څکه خو دا ښځه د پیشو د وجې نه جهنم ته داخله شو!

3- د یو حیوان ساتل لکه پیشو مرغان وغیره جائز دي خو په دې شرط چې هغې ته خوراک څښاک وغیره ورکړی شي.

4- انسان ته به د قيامت په ورځ عذاب ورکول کيږي که چيرته يي يو حيوان ته عذاب ورکړی وی د څه سبب پرته.

هذا دُعاَءٌ أَفْضَلُ

60- عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ دَعْوَةٍ يَدْعُو بِهَا الْعَبْدُ أَفْضَلَ مِنْ، اَللَّهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الْمُعَافَاةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ".

(سنن ابن ماجه، رقم الحديث 3851، وَصَحَحه الألباني).

غوره دعا

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: نشته هيڅ يوه غوره دعا چې په هغې سره بنده د الله پاک نه دعا غواړي، ددي دعانه: اَللَّهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الْمُعَافَاةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ".

ای پروردګاره زه ستانه په دنيا او اخرت کې عافيت (دهرمصيبت) نه خلاصونه غواړم.

د راوي پیژندنه: ددي حدیث د راوي پیژندنه مخکې په اول نمبر حدیث کې ذکر شوي ده.

ددي حدیث د فوائدو څخه:

1- دا دعا په اخلاص او عاجزۍ سره ډیره ویل پکار دي څکه چې په دي سره بنده کولی شي، چې ددنیا او اخرت سلامتي حاصله کړي.

2- د معافات: معنی ده چې الله پاک انسان د هر قسم مصیبتونو فتنو مشکلاتو نه په دنیا او اخرت کې وساتي.

وجوب رَدْعِ المعتدي

61-عَنْ سَعِيْدِ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ قُتِلَ دُوْنَ ماله؛ فَهُوَ شَهِيْدٌ، ومَنْ قُتِلَ دُوْنَ أَهْله، أو دُوْنَ دَمِه، أو دُوْنَ دِيْنِه؛ فَهُوَ شَهِيْدٌ".

(سنن أبي داوَد، رقم الحديث 4772، واللفظ له، وجامع الترمذي، رقم الحديث 1421، وسنن النسائي، رقم الحديث 4095، وسنن ابن ماجه، رقم الحديث 2580،

وقال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه:حسن صحيح، وصححه الألباني).

د ظالم په مقابل کې دخپل ځان دفاع کول واجب دي.

د سعید بن زید رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې دمال په دفاع کې مړ شو شهید دی، او څوک چې دبچو په دفاع کې مړ شو شهید دی، او څوک چې ددخپلې وینې په دفاع کې مړ شو شهید دی، او څوک چې د خپل دین په دفاع کې مړ شو شهید دی.

د راوي پیژندنه: ددي حدیث راوې ابو سعید بن زید عدوې قرشي جلیل القدر صحابي دی، دوویشت کاله مخکې د هجرت نه په مکه مکرمه کې پیدا شوی دی او د مکې نه یې مدیني ته هجرت هم کړی دی، په ټولو غزاګاني کې یې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره شریک شوی دی یواځې د بدر په غزا کې ددي وجې نه شریک نشو چې ده دمشرکینو دهغه قافلې څارنه کوله

کومه چې شام ته روانه وه ، سعید رضي الله عنه د هغه صحابه کرامو په جماعت کې شامل دی کومو ته چې په یو مجلس کې د جنت زیری ورکړی شوی وو.
د سعید رضي الله عنه نه د حدیثو په کتابو کې اته څلویښت حدیثونه نقل دي اودی په یوپنځوستم هجري کال کې د عقیق په مقام کې وفات شو چې د هغه ځای نه بیا دده مړی مدیني ته نقل شو، او هلته دفن شو.
ددي حدیث د فوائدو څخه:
1- په مسلمان واجب ده چې د خپل ځان، بچو مور او پلار، او دخپل دین نه دفاع وکړي، اود ظالم مخه ونیسئ، که په دې مهال دی مړ شو شهید دی او که ظالم یي قتل کړ، نو په ده هیڅ دیت، قصاص وغیره نشته ځکه چې شریعت ده ته حق ورکړی دی چې د خپل ځان مال بچو او دین نه دفاع وکړي.
2- ددي دیث نه معلومیږي چې مؤمن بنده ډیر عزت او احترام لري دهغه نفس، مال، عزت وغیره به محفوظ

وې، او که څوک ورباندې زياتى کوې نو ده ته شرعا دا حق حاصل دى چې د تجاوز کونکي مخه ونيسئ، او که په دې مهال کې دى مړ شو شهيد دى، او که ظالم يي قتل کړ، نو هيڅ ديت، قصاص وغيره ورباندي نشته.

3- ددي حديث معنى داده: چې څوک د خپل ځان، مال، عزت، دين په دفاع کې مړشو، نو ده ته به د شهيد برابر اجر او ثواب ملاويږي.

## غَصْبَ الْأَرْضِ حرام في الإسلام

62- عَنْ سَعِيْدِ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "مَنْ ظَلَمَ مِنَ الْأَرْضِ شَيْئًا طُوِّقَهُ مِنْ سَبْعِ أَرَضِيْنَ".

(صحيح البخاري،رقم الحديث 2452، واللفظ له وصحيح مسلم، رقم الحديث 137 - (1610)

د بل چا زمکه غصب( په زوره اخستل) حرام دي.
د سعد بن زيد رضي الله عنه نه روايت دی چې ما دنبي كريم صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي: هغه فرمايل: چا چې په ظلم او زور سره د بل چا زمکه لاندي کړه، نو د قيامت په ورځ به الله پاک دده په څټ کې تر اومې زمکې پوري دا زمکه واچوي.
د راوي پیژندنه: ددي حدیث د راوي پيژندنه مخکې په يو شيپيتم نمبر حديث کې ذکر شوي ده.
ددي حديث د فوائدو څخه:
1- د اسلامي شريعت په مقاصدو کې د حقوقو ساتنې ته ډيره پاملرنه شوې ده.
2- دي حديث نه معلوميږي، چې څوک د زمکې مالک شو، نو هغه په دې زمکه کې دننه دهر څه مالک ګرځي او ده ته شرعا جائز ده چې په دې زمکه کې تصرف وکړي څنګه چې يي خوښه وي خو په دې شرط چې ګاونډي ته ددينه ضرر او تکليف نه وي.

3- ددي حديث د مفهوم او معنى باره کې ډير اقوال علماو بيان کړي دي:

دازمکه به دده په ښټ وربار کړی شي، او ده ته به وويل شي، چې د محشر ميدان ته يي يوسه، يا داچې دی به په دي زمکه کې ښکته راښکلی شي، يا داچې ددينه ګناه مراد ده چې دده په ښټ کې به د ګناه يو انبار جوړشئ.

التحذير من الافتتان بالمال

63- عَنْ أَنَس بْنِ مَالك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: "يَكْبَرُ ابْنُ أدَمَ، وَيَكْبَرُ مَعَهُ اثْنَتَانِ: حُبّ الْمَالِ، وَطُوْلُ الْعُمْرِ".

(صحيح البخاري، رقم الحديث 6421، واللفظ له، وصحيح مسلم، رقم الحديث 115 - (1047)

## د مال دفتني نه باید مؤمن ځان وساتئ

د انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: کله چې د بني ادم عمر زیاتیږي، نو دوه شیان ورسره هم زیاتیږي دمال سره مینه، او د اوږده ژوند امیدونه.

د راوي پیژندنه: ددي حدیث د راوي پیژندنه مخکې په اول نمبر حدیث کې ذکر شوي ده.

ددي حدیث د فوائدو څخه:

1- د اسلام په مبین دین کې حلال مال ډیر ارزښت لري او داجر او ثواب باعث ګرځې لکه زکات، حج، جهاد، وغیره ځکه خو د اسلام مبین دین همیشه د اسراف فضول خرچي وغیره منعه کوې، خو هغه مال چې د هغې دوجې انسان په غرور او فتنه کې پریوځې د داسي مال بدي ذکر شوي ده.

2- یواځې اوږد عمر ښه نه دی بلکه اوږد عمر د نیک عمل سره ډیر ښه دی.

## من الأذكار عقب الصلوات المكتوبة

64- عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ النَّبِي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ، لَمْ يَقْعُدْ، إِلاَّ مِقْدَارَ مَا يَقُولُ: "اَللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلاَمُ وَمِنْكَ السَّلاَمُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلاَلِ وَالاِكْرَامِ".(صحيح مسلم، رقم الحديث 136 - (592)

## د فرض مونځ نه ورستو دعا

د عائشي رضي الله عنها نه روايت دی چې کله به نبي كريم صلى الله عليه وسلم سلام وګرځوو، نو قبلې لوري ته به نه کیناسته مګر ددي دعا په اندازه:

اَللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلاَمُ وَمِنْكَ السَّلاَمُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلاَلِ وَالاِكْرَامِ"

الهي ته د سلامتيا ذات يي، او سلامتيا ستا د خوانه ده، برکتناک ذات يي، ای د لوئ او عزت خاونده.

د راوي پیژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخکې په شپاړسم نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- ددي حديث معنى داده: چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم به دسلام ګرځولو نه وروستو قبلې ته مخامخ ډير نه كيناستلو، بلكه ددي دعا په اندازه به (اَللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالاِكْرَامِ") كيناستلو بيا به يې مقتديانو ته مخ راوګرځوو.

2- په مانځه كې دسلام ګرځولو نه ورستو مختلفې دعا ګاني راغلي دي: چې دهغې دجملې نه يوه دادعا (اَللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالاِكْرَامِ") الهي ته د سلامتيا ذات يي، او سلامتيا ستا د خوانه ده بركتناک ذات يي، ای د لوې او عزت خاونده.

3- د ( اللهم أنت السلام) دا دالله تعالى نوم دی او ددي معنى داده چې ای الله ته د هر قسم عيب او نقصان نه پاک يي او دهر قسم كمال خاوند يي، او د ( منک السلام) معنى چې سلامتيا( ساتل) ستا د خوانه دي، او

د ( ذوالجلال) معنى: د لوئي خاوند) او د( الاكرام) معنى دعزت او احسان خاوند.

إقبال الإمام على المأمومين بعد الصلاة

65 - عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى صَلاَةً أَقْبَل عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ.

(صحيح البخاري، رقم الحديث 845، واللفظ له، وصحيح مسلم، جزء من رقم الحديث 23 - (2275)

دسلام ګرځولونه وروستوبه امام مقتدیانوته مخ ګرځوي

د سمره بن جندب رضي الله عنه نه روایت دی چې کله به نبي کریم صلی الله علیه وسلم سلام وګرځوو، مونږ ته به مخامخ شو.

د راوي پیژندنه: ددي حدیث د راوي پیژندنه مخکې په دیرشتم نمبر حدیث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1-امام چې کله سلام وګرځوي او دري ځله استغفار اودا دعا(اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلاَمُ وَمِنْكَ السَّلامُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلالِ وَالاِكْرَامِ") ووائي نو بايد دَه چې بيا مقتديانوته را مخامخ شي .

2- ځيني علما کرام وائي چې دسلام ګرځولو نه بعد دامام دپاره په محراب کې دمانځه په شان کيناستل مکروه دي بلکه د مانځه د ناستي هيئت به بدلوې، نو چې کله د سلام نه بعد امام مقتديانو ته مخامخ شي، نو د مانځه د ناستي هيئت بدل شو.

3- مقديان چې د امام نه شاته وي په مانځه کې نو دا دامامتې ( مانځه) دوجې نه نو چې کله مونځ ختم شي او امام سلام وګرځوي نو پکار ده چې مقديانو ته را مخامخ شي، که دهغوې څه تپوسونه وغيره وې چې دهغې جواب ورکړې.

## جواز خروج النساء إلى المساجد

66- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّ رَسُوْلَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لاَ تَمْنَعُوا إِمَاءَ اللَّهِ مَسَاجِدَ اللَّهِ" (صحيح مسلم، رقم الحديث 136 (442)، واللفظ له، وصحيح البخاري، رقم الحديث 900).

## دښځو تلل مسجدونو ته جواز لري.

د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: تاسو د الله پاک وينځې (ښځې) دالله پاک د كورونو(مسجدونونه) نه مه منع كوئ.

د راوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخكې په يولسم نمبر حديث كې ذكر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:
1- ددي حديث نه ثابتيږي، چې د ښځو تلل مسجدونو ته جواز لري اګر که د ښځو دپاره غوره او بهتره داده چې هغوې په خپلو کورنو کې مونځونه وکړي، لکه څنګه چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم ارشاد دی: "لاَ تَمْنَعُوا نِسَاءَكُمْ الْمَسَاجِدَ وَبُيُوتُهُنَّ خَيْرٌ لَهُنَّ"، (انظر سنن أبي داوَد، رقم الحديث 567، وصححه الألباني)
تاسو خپلې ښځې د مسجدونو نه مه منع کوې، خو دهغوې کورونه د هغوې دپاره غوره دي.
2- دا حديث تقاضا کوې چې خاوند بايد خپلې ښځې ته اجازه ورکړي کله چې تري هغه مسجد ته دتلو اجازه وغواړي خو په دي شرط چې د څه فتني ويره نه وې.
3- په هغه صورت کې د ښځې تلل مسجد ته رواه نه دي کله چې هغې په خپل ځان باندي خوشبو وغيره لګولي وې، څکه چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم

ارشاد دی: إِذَا شَهِدَتْ إِحْدَاكُنَّ الْمَسْجِدَ؛ فَلا تَمَسَّ طِيْبًا"، (انظر صحيح مسلم، رقم الحديث 142 - (443)

كله چې تاسو(ښځو) کې څوک مسجد ته راځې خوشبو دي نه لګوې.

من أحكام المسح على الخفين

67- عَنِ المُغِيْرَةِ بْنِ شُعْبَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ؛ فَأَهْوَيْتُ لِأَنْزِعَ خُفَّيْهِ؛ فَقَالَ: "دَعْهُمَا؛ فَإِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ"؛ فمسح عَلَيهِمَا. (صحيح البخاري، رقم الحديث 206، واللفظ له، وصحيح مسلم، رقم الحديث 80 - (274)

په موزو مسح کول او دهغې ځيني مسائل

د مغيره بن شعبه رضي الله عنه روايت دی، وائي: زه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم سره په سفر کې وم نبي كريم صلى الله عليه وسلم اودس كولو زه ددي دپاره ښکته شوم چې دهغه دخپو نه موزې وباسم، نبي كريم صلى الله عليه وسلم ماته وفرمایل: پرېږده مه وباسه

ځکه چې دا موزې ما په اوداسه اچولي دي، پس مسحه يي ورباندي وکړه.

د راوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخکې په پنځه دريرشتم نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- خف: هغه موزې چې د څرمن وغيره جوړې شوې وې، او په خپو کيږې.

2- دا حديث شريف په موزو باندي د مسحې کولو دپاره دليل دی، نو په موزو باندي مسح کول مشروع دی په سفر او حضردواړه حالتونو کې، خو په موزو باندي د مسح کولو دپاره داشرط دی چې موزې به په اوداسه کې اچول شوي وې.

3-په موزو باندي د مسحې کولو مده او وخت د مقيم دپاره يوه ورځ او يوه شپه ده، او دمسافر دپاره دري ورځې او درې شپې دي.

## من أحكام المسح على الجَوْرَبَيْنِ

68- عَنِ المُغِيْرَةِ بْنِ شُعْبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: تَوَضَّأَ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ومسح عَلَى الجَوْرَبَيْنِ والنَّعلينِ.

(جامع الترمذي، رقم الحديث 99، واللفظ له، وسنن أبي داود، رقم الحديث 159، وسنن النسائي، رقم الحديث 125(م)، وسنن ابن ماجه، رقم الحديث 559، قال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن صحيح، وصححه الألباني).

پە جورابو مسح كول او دهغې ځينې مسائل.

د مغيره بن شعبه رضي الله عنه روايت دى وائي: نبي كريم صلى الله عليه وسلم اودس وكړو او مسحه يي وكړه په جرابو اوچپلو باندي.

د راوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخكې په پنځه دريرشتم نمبر حديث كې ذكر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- جورب: هغه جورابو ته وائي چې د مالوچو وغيره نه جوړې شوې وې.

2- داحديث شريف په جورابو باندي د مسح کولو دپاره دليل دی، نو په جورابوباندي مسح کول مشروع او جائز دي، که دسفر حالت کې وې او که د حضر په هر حالت کې په جورابو باندي مسح کول مشروع دي، خو شرط دادی چې جورابې به سختې وې اوخپله به بغير د تړلو نه په خپو پوري نښتي وې او بل شرط دادی چې دغه جورابې به په اوداسه سره په خپو شوي وي.

3- په جورابو باندي دمسحې کولو مده او وخت د مقيم دپاره يوه ورځ اويوه شپه ده، او دمسافر دپاره درې ورځې او درې شپې دي.

النهي عن التقاط لقطة من أحرم بالحج

69- عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عُثْمَانَ التَّيْمِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ لُقَطَةِ الْحَاجِّ.
(صحيح مسلم، رقم الحديث 11 - (1724)

دحاجي لقطه ( دهغه په لاره كې ورك شوي څيزونو) راخستل ممنوع دي.

د عبد الرحمن بن عثمان التيمى رضي الله عنه نه روايت دى چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم: د حاجې نه په لاره كې د ورك شوي څيزونو راخستلونه منع كړې ده.

د راوي پيژندنه: ددي حديث د راوي عبد الرحمن بن عثمان القرشي التيمي جليل القدر صحابي دى، ويل شوې چې ده د صلح حديبيه په ورځ د اسلام مبارك دين قبول كړو اودنبي كريم صلى الله عليه وسلم سره يي بيعت وكړو اوداهم ويل شوې چې ده د فتح مكې په ورځ د اسلام دين قبول كړو، ده ته د يرموك په غزا كې د

شرکت کولو اعزاز هم ورپه برخه شوی دی، او بیا په دري او يايم هجري کال کې په مکه کې وژل شوي دی.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- د اسلامي شريعت په رڼا کې لقطه هغه ورک شوي شي ته وائي: چې راخستونکي ته د هغې مالک معلوم نه وي.

2- د لقطې ( ورک شوي څيز) حکم په شريعت اسلامي کې هغه دادی: چې د حرم د لقطې ( ورک شوي څيز) نه علاوه په بل ځاې کې يو ورک شوی څيز څوک راواخلي نوديو کال پوري به دهغې اعلان کوې که يو کال پوري دهغې خاوند پيدا نشو نو دی کولی شي چې دهغې نه خپله فائده واخلې، او که ورک شوي څيز معمولي وونوبيا اعلان کولو ته هم حاجت نشته.

3- د هيچا دپاره د حرم لقطه (ورک شوی څيز) راخستل جواز نلري مګر په هغه صورت کې يي راخستل جائز

دي کله چې ددغه ځيز د ضائعه کيدلو ويره وي، خو چاچې د حرم لقطه ( ورک شوي) ځيز راواخيست نو هميشه به يي اعلان کوې ترڅو پوري چې مکه کې وې، ددي دپاره چې خاوند يي پيدا شي، خو دمکي نه چې کله بهر وځې نو دا ورک شوی ځيز به يو خاص هغه چا ته سپاري چې د ورک شوي شيانو مسئوليت په غاړه لري، ځکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:"وَلاَ يُلْتَقَطُ لُقْطَتُهُ إِلاَّ مَنْ عَرَّفَهَا: (انظر صحيح البخاري، رقم الحديث 1834 ).

او دحرم ورک شوی ځيز به څوک نه راخلې مګر د علان دپاره.

## من أوصاف أهل النار

70- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ضِرْسُ الْكَافِرِ أَوْ نَابُ الْكَافِرِ مِثْلُ أُحُدٍ، وَغِلَظُ جِلْدِهِ مَسِيرَةُ ثَلَاثٍ".

(صحيح مسلم، رقم الحديث 44 - (2851)

## د دوزخيانو اوصاف

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چئ نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: د قيامت په ورځ به د كافر دجامي غاښ يا داړه به داحد دغره ومره غټ وي اودهغه څرمن به ددري ورځو(مزل) په اندازه پيړه وي.

د راوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخكې په اول نمبر حديث كې ذكر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- هرقسم عذابونه او كړاوونه الله پاک په جهنم کې پيدا كړي دي، او جهنم الله پاک د كافرانو، منافقانو، او ګناهګارانو دپاره تيار كړی دی(دالله پاک نه بچاو غواړو)

2- دجهنميانو بدنونه به په اورد جهنم کې غټ او بړده وي تردي چې د ځيني كافرانو بدنونه به د غره نه هم ډير غټ او پلن وي، همدغه شان ددوي غاښونه او ژرمني به هم غټي وي ددي دپاره چې د الله پاک عذاب وڅکئ.

3-په جهنم کې دكافرانوعذابونه نه كميږې بلكه هميشه به هغوې د جهنم په اور کې اوسيږې.

من أوصاف جهنم

71- عَنْ عَبْد اللَّه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: "يُؤْتَى بِجَهَنَّمَ يَوْمَئذ لَهَا سَبْعُوْنَ أَلْفَ زِمَامٍ، مَعَ كُلِّ زِمَامٍ سَبْعُوْنَ أَلْفَ مَلَك يَجُرُّوْنَهَا".

(صحيح مسلم، رقم الحديث 29 - (2842)

## د جهنم اوصاف

د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: د قيامت په ورځ به جهنم راوستلی شي، دهغې به اويا زره زنجيرونه وي، او دهر زنجير سره به اويا زره ملائكې وي، چې هغه به راخكاږي.

دراوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخكې په دويم نمبر حديث كې ذكر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- ددي حديث شريف نه د جهنم غټوالی معلوميږي.

2- جهنم الله پاک دكافرانو، منافقانو، ګناهګارودپاره تيار كړی دی او د ډيرو عذابونو او كړاونو كور دی .

3- دا حديث شريف مونږ ته درس راكوي چې بايد د جنت دپاره تياری وكړو، او د جهنم د اور نه ځان بچ كړو.

الإيمان بالبعث بعد الموت

72- عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "يُبْعَثُ كُلُّ عَبْدٍ عَلَى مَا مَاتَ عَلَيْهِ".
(صحيح مسلم، رقم الحديث 83 - (2878)

د مرګ نه بعد په دوباره ژوندون ایمان.

د جابر رضي الله عنه نه روایت دی چې ما دنبي کریم صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي هغه فرمایل: هر بنده به په هغه حالت راپاڅیږي په کوم حالت چې مړ شوی وي.

د راوي پیژندنه: ددي حدیث د راوي پیژندنه مخکې په دوویشتم نمبر حدیث کې ذکر شوي ده.

ددي حدیث د فوائدو څخه:

1- داحدیث شریف لاربښونه کوئ، چې هر هغه عمل چې بنده یي په دنیا کې کوي، دهغې بدله به ورته په ورځ د قیامت ملاویږي، که د خیر عمل وي، ښه بدله به

ورته ملاو شي اوکه د شر عمل وې د شر بدله به ورته ملاو شي.

2- هر انسان باید ګناه نه ویره وکړې، ځکه چې ګناهونه انسان، په دنیا او اخرت کې بدبخته کوې.

3- د قیامت په ورځ به هر انسان په هغه حالت دوباره ژوندی کیږې په کوم حالت کې چې مړ شوی وې.

نفي الجوعِ عمن يتناول التمر

73- عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ: "لاَ يَجُوعُ أَهْلُ بَيْتٍ عِنْدَهُمُ التَّمْرُ".

(صحيح مسلم، رقم الحديث 152 - (2046)

هغه څوک وږی نه دی چې خرما ولري.

دعائشي رضي الله عنها نه روایت دی، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: هغه کور والا نه وګیکیږې، چې خرما وسره وې.

د راوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخکې په شپاړلسم نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- دي حديث شريف کې دخرما او دهغې ساتلو دپاره ترغيب ذکرشوی دی.

2- هغه څوک چې خرما ولري د هغوې ولګه لري کيږې.

المبادرة إلى التوبة

74- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَابَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا، تَابَ اللهُ عَلَيْهِ".

(صحيح مسلم، رقم الحديث 43 - (2703)

توبه استلو کې بيړه کول:

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: چاچې د مغرب څخه نمر راختلو نه مخکې توبه وکړه، الله پاک به دهغه توبه قبوله کړې.

د راوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخکې په اول نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

Download From; Aghalibrary.com

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- توبه او دهغې معنی: الله تعالی ته رجوع کول، او ګناهونه پرېښودل، داحديث شريف بنده ته د توبې ترغيب ورکوي، او دتوبې د قبليدلو دپاره يو څو شرطونه ضروري دي:

1- داچې په اخلاص سره بايد بنده خپل رب ته توبه وباسئ.

2- داچې ګناه پرېږدي.

3- داچې د ګناه په کولو باندي خپه او خپيمانه وې.

4- داچې کلک عزم او پخه اراده کول چې بيابه دغه ګناه نه کوې.

5- داچې که چيرته دبل چا حق وې نو هغه ته خپل حق بيرته ورکول.

6- داچې توبه بايد مخکې ددينه چې نمر د مغرب نه راوخيژې وويستل شي.

*Download From; Aghalibrary.com*

7- داچې د مرګ د علاماتونه مخکې باید توبه وویستل شي.
2- ګناهګار باید الله پاک ته توبه وباسئ، او که چیرته بیا ترینه ګناه صادره شي، نو باید بیا توبه وباسئ.
3- نمر د مغرب نه راختل، د الله پاک د قدرت یوه لویه نښه ده، او دقیامت په علاماتو کې لویه علامه ده.

النهي عن الحلف في البيع

75- عَنْ أَبِي قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَقُولُ: "إِيَّاكُمْ وَكَثْرَةَ الْحَلِفِ فِي الْبَيْعِ؛ فَإِنَّهُ يُنَفِّقُ ثُمَّ يَمْحَقُ".
(صحيح مسلم، رقم الحديث 132 - (1607)

د خرڅلاو په وخت قسم کولونه منعه.

د ابو قتاده رضي الله عنه نه روایت دی چې مادنبي کریم صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي هغه فرمایل: تاسو د خرڅلاو په وخت قسمونه مه کوئ ځکه په قسم کولو سره خو څیز خرڅ شي، خو برکت ترینه ختم شي.

Download From; Aghalibrary.com

د راوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخکې په اتم نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1-دي حديث نه معلوميږي چې بې حاجته قسمونه کول حرام دي.

2- تاجران بايد د حلال رزق د ګټلو کوشش وکړي، خو په خرڅلاو کې بايد قسمونه ونکړي، ترڅو چې د هغوي په مال کې برکت راشي.

تحريم الحلف بغير الله

76- عَنْ عَبْد الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لاَ تَحْلِفُوْا بِالطَّوَاغِيْ، وَلاَ بِأَبَائِكُمْ".

(صحيح مسلم، رقم الحديث 6 - (1648)

Download From; Aghalibrary.com

په غیرالله باندي قسم کول حرام دي.

د عبد الرحمن بن سمره رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: تاسو په بتانو، او خپلو پلرونو باندي قسمونه مه کوئ.

د راوي پیژندنه: ددي حدیث د راوي عبد الرحمن بن سمره القرشي،رضي الله عنه جلیل القدر صحابي دی، او دی په صحابه کرامو کې د مشرانو د جملې څخه دی ده د فتح مکې په ورځ باندي ایمان راوړی بیا په ورسته زمانه کې د سجستان او کابل والی مقرر شو، او دهمدي په لاس خراسان، سجستان، او خراسان فتح شوي وو، بیا روستو بصري ته بیرته راغی، او دمؤتې په غزا کې دده ډیر په ښه انداز سره شرکت شوی دی، عبد الرحمن بن سمره رضي الله عنه په پنځوستم هجري کال کې د بصري په ښار کې وفات شو.

ددي حدیث د فوائدو څخه:

Download From; Aghalibrary.com

1- داحديث دلالت کوي چې په مخلوق باندي قسم کول حرام دی.

2- طواغي: جمع ده د طاغية او ددينه مراد بتان، او باطل معبودان وغيره دي، همدغه رنګ هر هغه څوک چې په کفر کې سرکشي ته ورسيږي.

فضل السواك

77- عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ: "السِّوَاكُ مَطْهَرَةٌ لِلْفَمِ، مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ".
(سنن النسائي، رقم الحديث 5، وصححه الألباني).

د مسواک فضيلت او غوره والی

د عائشي رضي الله عنها نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرملي دي: مسواک وهل د خولې صفايي ده او د الله پاک د رضا کولو دپاره سبب دی.

د راوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخکې په شپاړلسم نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- دي حديث شريف کې د مسواک وهلو فضيلت ذکر شوی دی چې په دې سره خوله صفاکيږي، او د الله پاک د رضا سبب ګرځي، ځکه چې الله پاک ښائسته ذات دی او خائست خوښه وي.

2-دمسواک په ځاې دغاښونو برش هم استعمالولی شي ځکه چې په هغې سره هم خوله صفاکيږي.

إكرام النساء في الإسلام

78- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَمْعَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لا يَجْلِدُ أَحَدُكُمْ امْرَأَتَهُ جَلْدَ الْعَبْدِ ثُمَّ يُجَامِعُهَا فِي أخِرِ الْيَوْمِ".
(صحيح البخاري، رقم الحديث 5204، واللفظ له، وصحيح مسلم، رقم الحديث 49 - (2855)

د اسلام په مبين دين کې د ښځو عزت او مقام

د عبد الله بن زمعه رضي الله عنه نه روايت دى چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: تاسو کې يو کس دي خپله ښځه د(غلام) مرئي په شان نه وهي، چې بيا د ورځ په ورستي برخه کې ورسره هم بستري هم کوئ.
د راوي پيژندنه: ددي حديث راوي عبد الله بن زمعه رضي الله جليل القدر صحابي دى، د ډيرو ښو اخلاقو خاوند وو، عبد الله بن زمعه رضي الله عنه په کال پنځه ديرش هجري کې وفات شوى دى.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- د اسلام په مبين دين کې د ښخو دپاره ځانګړي حقونه ذکر دي هغه داچې د ښځو سره بايد ښه سلوک، احسان او نرمي وکړی شي.

الحث على اختيار صُحبة الصالحين

79- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خَيْرُ الْأَصْحَابِ عِنْدَ اللَّهِ خَيْرُهُمْ لِصَاحِبِهِ، وَخَيْرُ الْجِيرَانِ عِنْدَ اللَّهِ خَيْرُهُمْ لِجَارِهِ".

(جامع الترمذي، رقم الحديث 1944، قال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن غريب، وصححه الألباني).

نيکان او صالحه ملګري سره تعلق ساتل.

د عبد الله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلى الله فرمايلي دي: غوره ملګري د الله پاک په نيز هغه دي چې د خپلو ملګرو سره ښه وي، او غوره ګاونډيان د الله پاک په نيز باندي هغه دي چې د خپل ګاونډي سره ښه وي.

د راوي پیژندنه: ددي حدیث د راوي پیژندنه مخکې په اوه دیرشتم نمبر حدیث کې ذکر شوي ده.

ددي حدیث د فوائدو څخه:

1- دا حدیث لارښونه کوئ، چې هرهغه څوک د الله پاک په نیز غوره دی چې دخپل ملګري، او ګاونډي سره د ښو اخلاقو معامله کوي.

2- مؤمن باید د نیکانو او صالحینو سره ملګرتوب وکړي او د فاسقانو د ملګر توب نه باید ځان وساتي.

دعاء الولد من أسباب رفع درجات الوالدين

80- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ: "إِنَّ الرَّجُلَ لَتُرْفَعُ دَرَجَتُهُ فِي الْجَنَّةِ؛ فَيَقُولُ: أَنَّى لِي هَذَا؟ فَيُقَالُ: بِاسْتِغْفَارِ وَلَدِكَ لَكَ".

(سنن ابن ماجه، رقم الحديث 3660، وحسنه الألباني).

د بچې په دعا سره د مور او پلار درجې وچتيږي.

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: يقينا د يو سړي درجه به په جنت کې وچته شي، نو وبه وائي: چې دا دڅه وجې نه، ورته به وويل شي، دا ستا د ځوي ددعا او بښني غو ښتلو د وجې نه ستا دپاره.

د راوي پيژندنه: ددې حديث د راوي پيژندنه مخکې په اول نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددې حديث د فوائدو څخه:

1- دا حديث شريف لار ښونه کوي، چې مور او پلار بايد د خپلو بچې ښه اسلامي تربيت او پالنه وکړي، تر څو د دوي دپاره د دوي د مرګ نه روستو دعا ګاني او استغفار وغواړي، ځکه چې هغه اولاد چې دهغوي تربيت په شر اوفساد باندې شوی وي، هغوي دخپل ځان دپاره استغفار نه پيژني، نو د مور او پلار دپاره به څه استغفار وغواړي.

2- بچې باید دخپل مور اوپلار دپاره دعا ګاني او استغفار وغواړي.

3- د بچې دعاګاني د مور او پلار د درجو دوچتوالي سبب ګرځي.

## من أحكام الجُنُبِ والجَنَابة

81- عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ جُنُباً؛ فَأَرَادَ أَنْ يَأْكُلَ أَوْ يَنَامَ؛ تَوَضَّأَ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ.

(صحيح مسلم، رَقم الحديث 22 -(305)

## د جنب او جنابت احکام

د عائشي رضي الله عنها نه روايت دی، چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم چې به کله جنب وو، او غوښتل به يي چې څه وخوري، يا وده شي، نو اودس به يي وکړو، لکه څنګه چې به يي د مانځه دپاره اودس کولو.

د راوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخکې په شپاړلسم نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- جنب: هغه څوک چې کورالی وکړې، يا ورته په بله طريقه جنابت ورسيږې، نودغسل کولو نه پرته کولی شي، چې څه وخوري، يا ويده شي وغيره، او په دي کې ښځه او سړی برابردي.

2- همدغه شان ښځه دجنابت په حالت کې کولی شي چې د کور کار پخلی وغيره وکړې.

3- د جنب دپاره غوره ده چې د خوراک وغيره نه مخکې اودس وکړې، او غسل کول غوره ي.

## ذكر الله يطرد الشيطان

82- عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبدالله رَضِي اللهُ عَنْهُمَا أَنّهُ سَمعَ النَّبِيّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا دَخَلَ الرّجُلُ بَيْتَهُ؛ فَذَكَرَ اللهَ عنْدَ دُخُوله، وَعنْدَ طَعَامه؛ قَالَ الشّيطَانُ: لاَ مَبِيتَ لَكُمْ وَلاَ عَشَاء، وَإِذَا دَخَلَ؛ فَلَمْ يَذْكُرِ اللهَ عنْدَ دُخُوله؛ قَالَ الشّيطَانُ: أَدْرَكْتُمُ المَبِيْتَ، وَإِذَا لَمْ يَذْكُرِ اللهَ عِنْدَ طَعَامِهِ، قَالَ: أَدْرَكْتُمُ المَبِيتَ وَالعَشَاء".

(صحيح مسلم، رقم الحديث 103 - (2018)

## د الله پاک د ذکر نه شیطان تښتئ.

د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما نه روايت دی، چئ ما د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه اوريدلي دي، هغه فرمايل: څوک چې کور ته په داسي حالت کې داخل شي، چې د دا خليدو په وخت د الله ذکر وکړي، او همدغه شان د خوراک په وخت هم د الله پاک ذکر وکړي، نو شيطان نوروته ووائي:نه ستاسو دپا ره په دي کورکې دشپي ځاي شته او نه خوراک شته اوچې کله

د داخلیدو په وخت د الله ذکر ونه کړي، شیطان نورو ته ووائي: چې د شپې ځاې ستاسو پیداشو، او چې د خوراک په وخت د الله ذکر ونه کړي، شیطان نورو ته ووائي: دي کور کې ستاسو خوراک، او د شپې ځاې ملاو شو.

د راوي پیژندنه: ددي حدیث د راوي پیژندنه مخکې په دوویشتم نمبر حدیث کې ذکر شوي ده.

ددي حدیث د فوائدو څخه:

1- دا حدیث شریف لار ښونه کوئ، چې مؤمن بنده باید د الله پاک د ذکر کولو اهتمام وکړي، په خاصه توګه چې کله کور ته ننوځې، یا خوراک کوئ، وغیره.

2- شیطانان هغه کور ته ننوځې، د کوم کور خاوندان چې د الله پاک ذکر نه کوي، او دهغوي سره خوراک کوي، او د هغوي په کور کې شپه تیره وي.

3- د الله پاک د ذکر په وجه شیطانان تښتئ ، الله پاک راضاکیږي، همدغه شان د الله پاک په ذکر سره د بنده

غمونه ختميږي، اوزړه ته يي اطمئنان، سكون، او راحت راځي.

الحث على الدعاء في السجود

83- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ؛ فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ".

(صحيح مسلم، رقم الحديث 215 -(482)

د سجدې په حالت کې دعا غوښتلو ته ترغيب

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ډير چې بنده خپل رب ته نيزدي وې هغه وخت چې کله بنده په سجده وې پس تاسو په سجده کې ډيري دعاګاني غواړئ.

دراوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخکې په اول نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- مؤمن بنده کولی شي، چې د خپل رب نه په مانځه کې دعاګاني وغواړئ، برابره خبره ده که فرض مونځ وې یا نفل او ددعا دپاره غوره مقام په مانځه کې هغه د سجدې حالت دی.

2- مؤمن بنده دپاره مستحب ده چې قراني دعاګاني او همدغه شان هغه دعاګاني چې په نبوي سنتو کې راغلي دي هغه یادې کړې، څکه چې په دي دعاګانو کې دده او دده د اولاد دپاره د دنیا او اخرت خیرونه شته.

## تحريم تجصيص القبر

84- عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُجَصَّصَ الْقَبْرُ، وَأَنْ يُقْعَدَ عَلَيْهِ، وَأَنْ يُبْنَى عَلَيْهِ. (صحيح مسلم، رقم الحديث 94 -(970)

د قبرونو چونه کول حرام دي.

د جابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت دی فرمائي: چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د قبر چونه کولو او په هغي باندي کيناستلو، او ابادي کولو نه منع فرمايلي ده.

د راوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخکې په دوويشتم ٔمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- د ا حديث د قبرونو په چونه کولو، او په هغي باندي ابادي کولو ياورباندي مسجدونه وغيره جوړولو دحرام والي ښکاره دليل دی، ځکه چې مړي نه دي کارونه ته محتاجه دی، او نه ورته دا کارونه څه فائده ورکوې.

2- جص: چوني ته وايي، کومه چې په ابادیانو کې استعمالیږي، او ددي دحرمت سبب هغه دادی چې کوم قبر چونه کړې شي، او په هغې باندي ابادئ وغیره وکړی شي، نو د عامو خلکو نظرونه دغه قبر ته راوړي، او بالاخره خلک دهغې قبرونو تعظیم شروع کړې، او په شرک کې اخته شي، نو ځکه اسلامي شریعت د قبرونو د چونه کولو نه منع فرمائلي ده.

3- دي حدیث نه معلومیږي، چې په قبر باندي کیناستل، یا هغې ته تکیه لګول، حرام دي ځکه چې په دي کې د مړی بي احترامي ده، او مسلمان چې څنګه په ژوند عزتمند وي نو د مرګ نه بعد به هم د هغې عزت او احترام کولی شي.

## التحذير من فاحشة اللواط

85- عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ وَجَدْتُمُوهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ؛ فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ وَالْمَفْعُولَ بِهِ".

(سنن أَبِي داود، رقم الحديث 4462، وجامع الترمذي، رقم الحديث 1456، واللفظ لهما، وسنن ابن ماجه، رقم الحديث 2561، وقدحسن وصحح الألباني هذا الحديث).

## د لواطت ګناه او دهغې سزا

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی، چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې تاسي په لواطت ووينئ نو فاعل ( چې دا فاحشه كوئ) او مفعول (چې دا فاحشه ورسره كيږي ) دواړه قتل كړي.

د راوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخكې په شپږم نمبر حديث كې ذكر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- لواطت: نارينه، چې نارينه ته په فاحشي سره راتګ وکړي، ديته لواطت وائي، دا يوه داسي ګناه ده چې د انسان دفطرت په خرابيدلو باندي او دهغه په بې عقلي باندي دلالت کوي، او دا ګناه ډير زيات ناوړه اثر کوي د انسان په صحت باندي، او په ټولنه باندي د بداخلاقۍ اثر کوي، او ددي ګناه په وجه باندي الله پاک د لوط عليه السلام قوم ته ډير دعبرت او سخت عذابونه ورکړل، د الله پاک ارشاد دی:(فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِنْ سِجِّيلٍ مَنْضُودٍ) ( سورة هود، الأية 82 )

هر کله چې زمونږ حکم راغی د عذاب نو مونږ دهغه کلي بره اړخ لاندي کړ، او په هغه مو د داسي کاڼو باران وکړ، چې د خټو جوړ او په اوور پخ شوي وو، لاندي باندي.

## ما ينتفع به الميت

86- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلاَّ مِنْ ثَلاثَةٍ: إِلاَّ مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ"(صحيح مسلم، رقم الحديث 14 -(1631))

هغه عملونه چې انسان ته دمرګ نه بعد هم فائده رسوي

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه فرمايلي دي: کله چې انسان مړشي، د هغه عملونه ختم شي، مګر دري عملونه نه ختميږي، صدقه جاريه، فائده مند علم، او نيکان بچې چې دمور او پلار دپاره دعا کوي.

د راوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخکې په اول نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- دي حديث نه معلوميږي، چې د انسان په مرګ سره دهغه عملونه ختميږي، مګر دا دري عملونه ددي اجر او ثواب به ورته د مرګ نه وروستو هم رسيږي، ځکه چې ددي عملونو سبب همدا خپله دی، او بچې هم د انسان کسب دی.

2- دا حديث شريف په دي هم دلالت کوي، چې مړي ته د قران لوستلو اجر او ثواب بښل مشروه نه دي، ځکه چې دا دنبي کريم صلی الله عليه وسلم نه ثابت نه دي، او نه دصحابه کرامو نه دا کار ثابت دی، او کوم کار چې نه پيغمبر کړی وي، او نه صحابه کرامو کړی وي، نو بيله شکه دا کار بدعت او نارواه وي.

3- دا حديث لار ښونه کوي، چې د انسان دپاره واده کول بهتره دي، ترڅو نيک او صالحه بچې يي پيدا شي، او دده دمرګ نه بعد ورته دعاګاني وکړي.

## فضل تفطير الصائمين

87- عَنْ زَيْد بْنِ خَالد الْجُهَني رَضيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: "مَنْ فَطَّرَ صَائمًا كَانَ لَهُ مثْلُ أَجْرِه غَيْرَ أَنَّهُ لاَ يَنْقُصُ منْ أَجْرِ الصَّائمِ شَيْئًا".

(جامع الترمذي، رقم الحديث 807، واللفظ له، وسنن ابن ماجه، رقم الحديث 1746، وقال الإمام الترمذي عن هذا الحديث بأنه: حسن صحيح، وصححه الألباني)

روژه دار ته روژه ماتی ورکول او دهغې فضيلت

د زيد بن خالد الجهني رضي الله عنه روايت دی چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: چاچې روژه دار ته روژه ماتی ورکړ، نو ده ته به دروژه دار داجراو ثواب په شان اجر او ثواب ورکړی شي اودروژه درداجراو ثواب نه به هيڅ نه کميږي.

د راوي پيژندنه: ددي حديث راوي ابو عبد الرحمن خالد الجهني رضي الله عنه جليل القدر صحابي دی د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره د حديبي په واقعه کې موجود وو اودفتح مکي په ورځ ده سره د خپلې قبيلۍ جنهه په لاس کې وه، د حديث په کتابونو کې دده نه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم يو اتيا حديثونه نقل دي، دده وفات په مدينه کې شوی دی، او چا ويلي چې په مصر کې وفات شوي، او داهم ويل شوي دي چې په کوفه کې وفات شوی دی، دده وفات کال أته اويا هجري دي چې دده عمر په دغه وخت کې پنځه اتيا کاله وو.

ددي حديث د فوائدو ښخه:

1- بيله شکه روژه دار ته روژه ماتی ورکول، د خير اجر او ثواب کار دی، ځکه چې په دي سره د مسلمانانو په مينځ کې مينه او محبت پيدا کيږي، اګر که دوي د وطن په لحاظ سره د يو بل نه جدا وي، همدغه شان روژه

دار ته روژه ماتی ورکول، دډیراجراو ثواب باعث ګرځي او په دي سره دروژه درداجر اوثواب نه هيڅ نه کميږي.

2- هر مؤمن بايد دخپل طاقت سره سم په دي حديث باندي د عمل کولو کوشش وکړي.

من فضائل شهر رمضان

88- عَنْ أَنَس بْنِ مَالك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ دَخَلَ رَمَضَانُ؛ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اَللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: "إِنَّ هَذَا الشَّهْرَ قَدْ حَضَرَكُمْ، وَفيه لَيْلَةٌ خَيْرٌ منْ أَلْف شَهْرٍ، مَنْ حُرِمَهَا؛ فَقَدْ حُرِمَ الْخَيْرَ كُلَّهُ، وَلاَ يُحرمُ خَيْرَهَا إِلاَّ مَحرومٌ".

(سنن ابن ماجه، رقم الحديث 1644، وحسنه الألباني وصححه)

رمضان د مياشتي غوره والی

د انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: بيشکه دا مياشت درمضان په تاسو راغله، او په دي کې يوه شپه ده چې د زرو مياشتو نه غوره ده، څوک چې ددغي

ورځې دخير نه محرومه شو، بيشکه د هر هغه خير نه محرومه شو ځکه چې ددي د خير نه نه محروميږي، مګر بي خيره انسان محروميږي.

د راوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخکې په دريم نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو ځخه:

1- مياشت درمضان د برکت ، دخير، دذکرد قران دتلاوت مياشت ده په دي مياشت کې انسانان د دوزخ داور نه بچ کيږي، په دي مياشت کې يوه شپه ده چې په هغې کې نيک عمل د زرو مياشتو دنيک عمل نه غوره دی ددي دوجې نه چې څوک ددي دخير نه محرومه شو، بيشکه د هر خير نه محرومه شو.

2- دا حديث لار ښونه کوئ، چې بنده بايد د رمضان مياشت غنيمت وګڼي او په دي مياشت کې د الله پاک ډيره بندګي وکړې، او دا خرت تياري وکړې، ددي دپاره چې په دنيا او اخرت کې کامياب شي.

## من أهم علامات المنافقين

89- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ، قَالَ: "آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلاَثٌ: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ".

(صحيح البخاري، رقم الحديث 33، واللفظ له، وصحيح مسلم، رقم الحديث 107 - (59)

## د مناقانو ښكاره نښئ

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت د ی چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: د منافق دري نښي دي: چې كله خبري كوې، دروغ وايي، او چې وعده وكړې، د هغې خلاف كوې، او چې امانت ورسره كيښودل شي، په هغې كې خيانت كوې.

د راوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخكې په اول نمبر حديث كې ذكر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- دا حديث بنده ته ويره ورکوي، د دروغو ويلو نه، او د وعده خلافې نه، او په امانت کې د خيانت کولو نه، ځکه چې د ا دمنافق صفتونه دي.

2- منافق ديته وائي چې شر پټوي، او خير ښکار کوي.

3- ددي حديث معنى داده چې دا دري صفتونه دمنافق صفتونه دي.

إكرام حامل القرآن

90- عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ مِنْ إِجْلَالِ اللَّهِ: إِكْرَامَ ذِي الشَّيْبَةِ الْمُسْلِمِ، وَحَامِلَ الْقُرْآنِ غَيْرِ الْغَالِي فِيهِ وَالْجَافِي عَنْهُ، وَإِكْرَامَ ذِي السُّلْطَانِ الْمُقْسِطِ".

(سنن أَبِي داود، رقم الحديث 4843، وحسنه الألباني).

## د قران والو عزت او اکرام

د ابو موسى الأشعري رضي الله عنه نه روايت دى چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: بيشکه د الله پاک د تعظيم نه داهم ده چې د سپينګري بوډا، عزت او اکرام کول، او دقران والو، عزت او اکرام چې هغوې په قران کې غلو اودقران نه جفا نه کوې، او د عادل بادشاه عزت او اکرام کول.

د راوي پيژندنه: ددي حديث د راوي پيژندنه مخکې په اته ويشت نمبر حديث کې ذکر شوي ده.

ددي حديث د فوائدو څخه:

1- د اسلام مبين دين د مشرانو عزت او احترام کولو ته ترغيب ورکوې.

2- دا حديث لار ښونه کوې، چې د قران والو عزت او احترام کول، دالله پاک تعظيم او دهغه د رضا سبب ګرځې، هغه څوک چې د قران، تلاوت کوې، او په قران عمل کوې دهغوې احترام او اکرام په کار دى.

والحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات، والصلاة والسلام على رسولنا محمد، وعلى أله وصحبه أجمعين.

# فهرس المحتويات


| المحتويات | رقم الصفحة |
|---|---|
| سریزه | 2 |
| د پاک حلال مال نه صدقه او دهغې فضیلت | 6 |
| د ین اسلام د اسانۍ دین دی | 9 |
| د قرباني څني مسائل | 12 |
| په مانځه کې د امام تابعداري | 15 |
| په مانځه کې سلام ګرځول او دهغې طریقه | 18 |
| دریاء او ځان ښودني څخه ویره | 22 |
| د دجال ځیني نښې | 25 |
| قوم ته اوبه ورکول او دهغې آداب | 27 |
| د څښکلو آداب | 29 |
| په اسلام کې ممنوع څیزونه | 31 |
| دعوت قبلول واجب دي | 33 |
| د سهار او ماخوستن مونځ په جماعت سره کولو فضیلت: | 36 |
| اسلامي تعلیماتو کې تصویر ویستل حرام دي | 39 |
| د خوراک آداب | 41 |
| د اوداسه طریقه | 43 |
| د ملائکو او پیریانو مینځ کې فرق | 46 |
| مسجد قبا کې د مانځه غوره والی | 48 |
| د ین اسلام د کمزورو سره مدد کولوته ترغیب ورکوي | 50 |
| د اسلام دین مینې او محبت ته ترغیب ورکوي. | 52 |

| | |
|---|---|
| صحت او فراغت غنیمت ګڼل پکار دي. | 55 |
| د ین اسلام د حقوقو ساتنه کوي. | 57 |
| پلار د زوي مال د ضرورت برابر اخستلی شي. | 59 |
| مانځه کې په تشو باندي لاسونه کیښودل جواز نلري. | 62 |
| په ولاړه خوراک او څښاک جواز لري. | 65 |
| د سورت اخلاص فضیلت | 67 |
| ځوانان باید ودونه وکړي. | 69 |
| د نبي کریم صلی الله علیه وسلم خصوصیات | 72 |
| د جنت اوصاف | 74 |
| د قرباني په څاروي کې شراکت جائز دی | 75 |
| د جهنمیانو رنګارنګ عذابونه | 77 |
| د لوې اختر ورځې | 80 |
| روژه او اخترونه د ټولو مسلمانانو سره یوځاي | 82 |
| د ګناهونو نه ویره | 83 |
| دوکه حرام ده | 85 |
| د مانځه نه بعد دعاګاني | 89 |
| د ماښام اذکار | 92 |
| غروه خلک او دهغوي علامات | 95 |
| د بل چا حقوقو غصب کول حرام دي. | 97 |
| د ازمیښت په وخت صبر پکار دی | 99 |
| حجر اسود جنتي کاڼی دی | 100 |
| په سفر کې روژه نیول او نه نیول دواړه جواز لري | 101 |

| | |
|---|---|
| په دبر شاه کې جماع کول حرام دي. | 103 |
| کله چې په تیمم سره مونځ وکړې شي او بآ وبه ملاوشي. | 106 |
| د لوریانو خدمت کول | 108 |
| مسجد ته د داخلیدو او بهر وتلو دعا | 111 |
| مسجد ته داخلیدو او بهر وتلو وخت کې درود ویل | 118 |
| د مسجد اداب | 120 |
| مسجد کې د ورک شي اعلان کول جواز نلري | 123 |
| په وترو کې دعا قنوت | 128 |
| د وترو مونځ قضايي رواړل | 130 |
| د وترو مسائل | 132 |
| ښکاره ګناه او دهغې وعید | 134 |
| په احسان کې د مور حق زیات دی | 136 |
| عد مور او پلار نافرماني کول لویه ګناه ده | 137 |
| حلال تجارت کول او هغې ته ترغیب | 139 |
| ږیره پریښودل او دهغې اکرام کول | 140 |
| خرچه کې د اجر نیت کول | 142 |
| د غمرازۍ مسائل | 146 |
| اسلام د رحمت دین دی | 148 |
| غوره دعا | 150 |
| دظالم په مقابل کې د ځان دفاع کول | 153 |
| د زمکو غصب کول حرام دي | 155 |
| د مال د فتني نه ځان ساتل | 156 |


*Download From; Aghalibrary.com*

| | |
|---|---|
| د فرض مانځه نه بعد دعا ګاني | 158 |
| د مانځه بعد امام به مقتدیانو ته رامخ کوي | 160 |
| مسجدونه ته د ښځو تلل جائز دي | 162 |
| په موزو باندي مسحه او دهغې مسائل | 164 |
| په جرابو مسح او دهغې احکام | 166 |
| په حرم کې ورک شوی څیز راخستل ممنوع دي | 169 |
| د جهنمیانو اصاف | 171 |
| د جهنم اوصاف | 172 |
| د مرګ نه بعد ژوندون | 173 |
| چې خرما وي ولګه نشته | 174 |
| توبه او په هغې کې بیړه کول | 176 |
| خرڅلاو کې قسمونه کول منعه دي. | 178 |
| غیر الله باندي قسم کول حرام دي. | 179 |
| د مسواک فضیلت | 181 |
| د ښځو مقام په اسلام کې. | 182 |
| د صالحینو سره ملګرتوب کول | 184 |
| د بچې په دعا د مور او پلار درجې وچتیږي. | 185 |
| د جنب او جنابت مسائل | 187 |
| د الله پاک د ذکر نه شیطانان تښتي. | 189 |
| په سجده کې دعاګاني او هغې ته ترغیب | 191 |
| د قبر چونه کول حرام دي | 193 |
| لواطت او دهغې سزا | 195 |


***Download From; Aghalibrary.com***

| | |
|---|---|
| هغه څه چې مړي ته فائده ورکوي | 197 |
| روژه دار ته روژه ماتی ورکول او دهغې فضیلت | 199 |
| د رمضان د میاشتي فضیلت | 201 |
| د منافق نښي. | 203 |
| د قران والو اکرام کول | 203 |
| سرفهرست | 204 |


***Download From; Aghalibrary.com***